# د دانیال کتاب

## د کتاب پېژندنه

د میلاد نه مخکې په ۶۰۵ کال کې دانیال نبي د ځوانۍ په وخت د اسیر په توګه ونیول شو او د اورشلیم څخه بابل ته یووړل شو. دانیال د خپلو دریو ملګرو سره یوځای په حکومتي چارو کې د روزنې دپاره غوره شو. خدای په دوی باندې فضل کوي، دوی د خپلې روزنې په موده کې ښه زحمت

باسي او په نتیجه کې د شاهي دربار لوړو مقامونو ته رسیږي. د خپل اوږد ژوند په جریان کې دانیال ډېرو پاچاهانو ته خدمت کوي. هغه د کوروش پاچا د پاچاهۍ په دربار کې هم خدمت کړی دی. کېدای شي د دانیال کتاب د هغه د ژوند په پای کې یعنې د میلاد نه مخکې شاوخوا په ۵۳۰ کال کې لیکل شوی وي.

د دانیال د کتاب لومړني شپږ فصلونه د دانیال او د هغه د دریو ملګرو کیسې بیانوي او دا چې

خدای څنګه د نبوکدنصر پاچا او بلشصر پاچا غرور ماتوي. په وروستنیو شپږو فصلونو کې د هغو رویاګانو او پېشګویانو یادونه شوې ده چې د راتلونکي په هکله دانیال ته څرګندې شوې وې. دا ټول په هغه وخت کې لیکل شوي وو، کله چې یهودیان د بت پرستو پاچاهانو د ظلم او ستم لاندې وو.

د کتاب موضوع د خدای

حاکمیت دی. خدای هر هغه چا ته حکومت ورکوي چې وغواړي، خو

په پای کې به هغه خپله ابدي پاچاهي برقراره کړي. بت پرسته امپراتورۍ راپورته کیږي او بیا سقوط کوي، خو د خدای خلک په هغه باندې د ایمان او اطاعت له امله بریالي کیږي. د دانیال او د هغه د ملګرو د ژوند کیسې د تاریخ په اوږدو کې د ایماندارانو دپاره د هڅونې او ځواک سرچینه ده، په ځانګړې توګه د ځورونو او کړاوونو په وختونو کې.

عیسی پخپله د دانیال نبي په

هکله خبرې کوي او د هغه څخه نقلونه راوړي. د مثال په توګه متي ۲۴:۱۵ وګورئ. په داسې حال کې چې د دې کتاب په وروستیو فصلونو کې زیاتره پېشګویانې د عیسی مسیح د پیدایښت نه مخکې پېښو سره تړاو لري، خو ځیني یې لا روښانه نه دي چې کله به پوره کیږي.

## د موضوعګانو لست

دانیال او د هغه ملګري: ۱ – ۶ فصلونه

# د دانیال رویاګانې: ۷ – ۱۲ فصلونه

## دانیال او د هغه ملګري د نبوکدنصر په دربار کې

۱ د یهودا د پاچا یهویاقیم د
پاچاهۍ په درېم کال د بابل پاچا
نبوکدنصر په اورشلیم باندې حمله
وکړه او ښار یې کلابند کړ. ۲
خښتن هغه پرېښود چې یهویاقیم
ونیسي او ځینې سپېڅلي لوښي چې
د خدای په کور کې ورڅخه کار
اخیستل کېده، له خپل ځان سره

یوسي. سېپځلي لوښي يې خپل
هېواد بابل ته یووړل او د خپل
خدای د بتخانې په تحویلخانه کې
يې کېښودل.

۳ پاچا د خپل دربار مشر
اشفناز ته امر وکړ چې د اسراییلي
جلاوطنو له منځ څخه دې ځینې
ځوانان چې د شاهي کورنۍ یا د
عزتمنو کورنیو څخه وي، غوره
کړي. ۴ هغه ځوانان باید ښکلي،
هوښیار، ښه روزل شوي او ځیرک
وي او جسماني عیبونه ونه لري،

ترڅو د دې وړ وي چې په شاهي دربار کې خدمت وکړي. اشفناز باید هغوی ته په بابلي ژبه لوستل او لیکل ورزده کړي. ۵ همدارنګه پاچا امر وکړ چې هغوی ته دې هره ورځ هماغه خواړه او شراب ورکړل شي لکه څنګه چې د شاهي دربار غړو ته ورکول کیږي. هغوی دې درې کاله وروزل شي او بیا هغوی کولای شي چې د پاچا خدمت وکړي. ۶ په دې غوره شویو ځوانانو کې دانیال، حننیا، میشاییل او عزریا وو چې هغوی ټول د یهودا

د قبیلې څخه وو. ۷ د دربار مشر په هغوی باندې نوي نومونه کېښودل: په دانیال باندې یې د بلطشصر، په حننیا باندې یې شدرک، په میشاییل باندې یې میشک او په عزریا باندې یې عبدنغو نوم کېښود.

## د دانیال وفاداري

۸ دانیال پرېکړه وکړه چې خپل ځان به د شاهي دربار د ډوډۍ په خوړلو او د شرابو په څښلو باندې د مذهبي دود له مخې ناپاکه نه کړي.

نو د دربار د مشر اشفناز ځخه يې
وغوښتل چې په دې خاطر د هغه
سره مرسته وکړي. ۹ نو خدای
اشفناز په دانيال باندې مهربانه کړ.
۱۰ خو بياهم اشفناز د پاچا ځخه
وېرېده، نو هغه دانيال ته وويل:
«پاچا پرېکړه کړې ده چې تاسو
بايد څه وخورئ او څه وڅښئ او
که چېرې د نورو ځوانانو په شان
تندرست ښکاره نه شئ، نو پاچا به
ما ووژني.»

۱۱ نو دانيال هغه ساتونکي ته

چې د اشفناز له خوا په هغه او د
هغه په درېو ملګرو باندې د مسوول
په توګه ټاکل شوی ؤ، ورغی او هغه
ته یې وویل: (۱۲) «مهرباني وکړه،
لس ورځې مونږ وازمایه. مونږ ته د
خوړلو دپاره یوازې سابه او د څښلو
دپاره اوبه راکړه. (۱۳) بیا مونږ د هغو
ځوانانو سره پرتله کړه چې د شاهي
دربار ډوډۍ خوري او بیا پرېکړه
وکړه چې مونږ څنګه ښکارو.» (۱۴)
نو هغه د دې وړاندیز سره موافقه
وکړه او لس ورځې وروسته یې
هغوی وازمایل. (۱۵) کله چې لس

ورځې تېرې شوې، ويې ليدل چې
هغوی د هغو ځوانانو څخه چې
شاهي ډوډۍ يې خوړله، روغ رمټ
او قوي ښکاره کېدل. ⑯ نو له دې
وروسته ساتونکي هغوی ته اجازه
ورکړه چې د هغو خوړو او شرابو په
ځای چې پاچا ورته ټاکلي وو، د
سابو خوړلو او اوبو څښلو ته دوام
ورکړي.

⑰ دغو څلورو ځوانانو ته
خدای په ادبياتو او فلسفه کې پوهه
او مهارت ورکړی ؤ. برسېره پردې

هغه دانیال ته د رویاګانو او د
خوبونو په تعبیرولو کې هم مهارت
ورکړی ؤ. ۱۸ کله چې هغه درې
کاله چې د پاچا له خوا ټاکل شوي
وو پای ته ورسېدل، نو د دربار مشر
اشفناز هغه ټول ځوانان نبوکدنصر ته
راوستل. ۱۹ پاچا د هغوی سره
خبرې وکړې او دا یې معلومه کړه
چې د نورو ځوانانو څخه هېڅوک د
دانیال، حننیا، میشاییل او عزریا نه
بهتر نه وو. نو هغوی ته په شاهي
دربار کې مقامونه ورکړل شول. ۲۰
پاچا چې د حکمت او پوهې په

هکله هره پوښتنه کوله او یا به یې کومه موضوع رامنځته کوله، دغه ثلور کسان به د هر یو فال کتونکي او جادوګر په پرتله چې د هغه په ټوله پاچاهۍ کې وو، لس واري زیات پوهېدل. (۲۱) دانیال د کوروش پاچا د پاچاهۍ تر لومړي کال پورې د بابل پاچا په دربار کې خدمت کاوه.

## د نبوکدنصر لومړنی خوب

(۱) نبوکدنصر د خپلې پاچاهۍ په دوهم کال خوب ولیده. دې خوب

هغه دومره پرېشانه کړ چې هغه نه شو کولای چې ویده شي. ۲ نو هغه خپل فال کتونکي، جادوګران، کوډګران او نجومیان راوغوښتل چې راشي او هغه ته ووایي چې هغه څه خوب لیدلی دی. کله چې هغوی راغلل او د پاچا په مخکې ودرېدل، ۳ پاچا هغوی ته وویل: «د هغه خوب په اړه چې ما لیدلی دی، زه پرېشان یم. زه غواړم په دې پوه شم چې د هغه معنی څه ده.»

۴ هغوی پاچا ته په آرامي ژبه

ځواب ورکړ: «ای اعلیحضرته، تاسو
دې تل ژوندي اوسئ! مونږ ستاسو
په خدمت کې یو. مهرباني وکړئ
خپل خوب مونږ ته ووایئ، مونږ به
یې تاسو ته ووایو چې هغه څه معنی
لري.» ۵ پاچا هغوی ته ووېل: «ما
ټینګه پرېکړه کړې ده چې تاسو باید
ما ته زما خوب بیان کړئ او بیا ما
ته ووایئ چې د هغه معنی څه ده. که
تاسو ونه شو کولای چې داسې
وکړئ، نو تاسو به ټوټې ټوټې کړای
شئ او ستاسو کورونه به په کنډوالو
باندې بدل شي. ۶ مګر که تاسو

وکولای شول چې خوب او د هغه
تعبیر دواړه راته بیان کړئ، نو زه به
تاسو ته انعام او سوغاتونه درکړم او
زیات عزت به مو وکړم. نو اوس ما
ته ووایئ چې ما کوم خوب لیدلی او
د هغه معنی څه ده.»

٧ هغوی بیا پاچا ته په ځواب
کې وویل: «که چېرې تاسو
اعلیحضرت مونږ ته یوازې دا ووایئ
چې تاسو کوم خوب لیدلی ؤ، نو
مونږ به د هغه معنی تاسو ته ووایو.»
٨ په دې خبره پاچا په ټینګار سره

وويل: «لکه څنګه چې ما فکر کاوه! تاسو هڅه کوئ چې د وخت څخه ګټه واخلئ، ځکه تاسو پوهېږئ چې ما ټينګه پرېکړه کړې ده ⑨ چې که تاسو ما ته خوب بيان نه کړئ، نو تاسو ټولو ته به يوشان سزا درکړای شي. تاسو په خپل منځ کې پرېکړه کړې ده چې ما ته به دروغ ووايئ، ځکه چې تاسو په دې هيله يئ چې د وخت په تېرېدلو سره به هر څه بدل شي. ما ته ووايئ چې هغه کوم خوب ؤ، بيا به زه پوه شم چې تاسو کولای شئ دا هم ووايئ چې د هغه

معنی څه ده.»

١٠ فال کتونکو په ځواب کې
وویل: «د ځمکې په مخ باندې هېڅ
داسې څوک نشته چې هغه وکولای
شي تاسو اعلیحضرت ته د دې
غوښتنې سره سم ځواب درکړي.
هېڅ یو پاچا، حتی ډېرو لویو او
قدرتمنو پاچاهانو د خپلو فال
کتونکو، جادوګرانو، کوډګرانو او یا
نجومیانو څخه کله داسې غوښتنه نه
ده کړې.» ١١ هغه څه چې تاسو
اعلیحضرت یې غواړئ هغه دومره

ستونزمن دي چې پرته له خدايانو
څخه بل هېڅوک هغه ستاسو دپاره
نه شي سرته رسولی او هغوی د
انسانانو په منځ کې نه اوسيږي. ١٢
په دې خبره پاچا ډېر سخت په قهر
شو او د بابل د ټولو شاهي مشاورانو
د اعدامولو امر يې وکړ. ١٣ نو امر
جاري کړای شو چې هغوی ټول دې
ووژل شي، چې دانيال او د هغه
ملګري هم په هغوی کې شامل وو.

## د خوب څرنګوالی او تعبير

١٤ کله چې د پاچا د ساتونکو

قوماندان اریوک چې د بابل د
مشاورانو د وژلو دپاره روان ؤ،
دانیال د هغه سره په حکمت او
هوښیارۍ سره خبرې وکړې. ۱۵
هغه د اریوک څخه پوښتنه وکړه:
«پاچا ولې داسې سخت امر جاري
کړی دی؟» نو څه چې پېښ شوي
وو اریوک هغه دانیال ته بیان کړل.

۱۶ دانیال سمدلاسه ورغی او
پاچا ته یې وویل: «که تاسو ما ته
یو څه وخت راکړئ، نو زه به ستاسو
د خوب تعبیر تاسو ته ووایم.» ۱۷

بیا دانیال کور ته لاړ او هغه څه
چې پېښ شوي وو هغه یې خپلو
ملګرو حننیا، میشاییل او عزریا ته
وویل. ۱۸ دانیال هغوی ته وویل
چې د اسمانونو خدای ته دعا وکړي
چې په هغوی باندې رحم وکړي او
د هغه څخه وغواړي چې دا راز
هغوی ته څرګند کړي، ترڅو هغوی
د بابل د نورو مشاورانو سره یو
ځای ونه وژل شي. ۱۹ نو په همدې
شپه دا راز دانیال ته په رویا کې
ورڅرګند شو او هغه د اسمانونو د
خدای ثنا او صفت بیان کړ او ویې

وويل:

٢٠ تل ترتله دې وشي د خدای
د نوم ثنا او صفت

ځکه دی هغه حکيم
او قادر

٢١ د هغه سره دی واک د
وختونو او فصلونو

کښېنوي په تخت
پاچاهان او لېرې
کوي يې

دا هغه دی چې
ورکوي حکمت او
پوهه

۲۲ ښکاره کوي ژور او پټ
رازونه

پوهیږي هغه چې څه
شی پټ دی په
تیارو کې

او د هغه راچاپېره ده
رڼا

## ۲۳ ای زما د نیکونو خدایه

کوم ثنا صفت او
شکرګزاري ستا

ځکه دې ماته دی راکړی
حکمت او قدرت

قبوله کړې دې ده
زمونږ دعا

او راودې ښودل مونږ
ته د پاچا د خوب
تعبیر

## د پاچا د خوب د څرنګوالي او تعبير بيانول

۲۴ نو دانيال اريوک ته چې پاچا ورته د شاهي مشاورانو د اعدامولو امر کړی ؤ، ورغی. دانيال هغه ته وويل: «هغوی مه اعداموه. ما پاچا ته وروله او زه به هغه ته ووايم چې د هغه د خوب معنی څه ده.» ۲۵ اريوک سمدلاسه دانيال د نبوکدنصر پاچا حضور ته وروست او پاچا ته يې وويل: «ما د يهودي جلاوطنو څخه يو کس راپيدا کړی دی چې

هغه کولای شي تاسو اعلیحضرت ته ستاسو د خوب معنی ووایي.»

۲۶ پاچا دانیال ته چې د بلطشصر په نوم هم یادېده، ووېل: «ته کولای شې ما ته ووایې چې ما څه خوب لیدلی او د هغه معنی څه ده؟» ۲۷ دانیال په ځواب کې ووېل: «ای اعلیحضرته، هېڅ یو مشاور، جادوګر، فال کتونکی او نجومي نشته چې وکولای شي هغه راز چې تاسو يې غواړئ هغه تاسو ته بیان کړي.» ۲۸ خو په اسمان کې داسې

خدای شته چې پټ رازونه ښکاره کوي. هغه څه چې په راتلونکې کې به پېښ شي د هغه څخه يې تاسو اعليحضرت خبر کړي يئ. اوس به تاسو ته هغه خوب ووايم. کله چې تاسو ويده وئ، تاسو دا رويا وليدله.

۲۹ کله چې تاسو ويده وئ، د راتلونکې په هکله مو خوب وليده او هغه پټ رازونه چې خدای يې ښکاره کوي، هغه تاسو ته وښودل چې څه به پېښ شي. ۳۰ خو دا راز ما ته په دې خاطر راښکاره شوی نه

دی چې زه د نورو شخه ډېر پوه یم، بلکې په دې خاطر چې تاسو اعلیحضرت د خپل خوب په معنی باندې پوه شئ او په هغو خیالونو باندې پوه شي چې ستاسو ذهن ته راغلي دي.

(۳۱) ای اعلیحضرته، تاسو په خپل خوب کې ولیدل چې ستاسو په مخکې یوه لویه مجسمه ولاړه ده چې ډېره ځلېدونکې او وېروونکې ښکاره کېدله. (۳۲) د هغې سر د سوچه سرو زرو شخه جوړ شوی ؤ،

د هغې سینه او متې د سپینو زرو
څخه جوړې شوې وې، د هغې
ورنونه او خېټه د برنجو څخه جوړه
شوې وه، (۳۳) د هغې د پښې پورتنۍ
برخه د اوسپنې څخه او لاندېنۍ
برخه یې د اوسپنې او ختو څخه
جوړه شوې وه. (۳۴) په هغه وخت
کې چې تاسو مجسمې ته کتل، د
غره څخه یوه لویه تیږه جدا کړای
شوه، خو نه د انسان د لاسونو په
وسیله. هغه لویه تیږه د مجسمې د
اوسپنې او ختې څخه جوړې شویو
د پښو په لاندېنیو برخو باندې

ولګېدله او هغه یې ټوټې ټوټې کړه.

٣٥ له هغې وروسته اوسپنه، خټه، برنج، سپین زر او سره زر ټوټې ټوټې شول او د هغو بوسو په شان شول چې په اوړي کې په درمند ځای کې وي. باد هغه داسې جارو کړل چې نښه یې پاتې نه شوه. خو هغه تیږه چې مجسمه یې وهلې وه د هغې څخه یو لوی غر جوړ شو او ټوله ځمکه یې ونیوله.

٣٦ دا خوب ؤ او اوس به تاسو اعلیحضرت ته د هغه معنی ووایم.

۳۷ ای اعلیحضرته، تاسو د پاچاهانو پاچا يئ. د اسمانونو خدای تاسو پاچا کړي يئ او تاسو ته يې قدرت، قوت او عزت درکړی دی. ۳۸ هغه تاسو د نړی په ټولو خلکو او په ټولو حيواناتو او مرغانو باندې حاکم کړي يئ. هغه د سرو زرو سر تاسو يئ. ۳۹ ستاسو څخه وروسته به بله پاچاهي پيل شي، خو هغه به ستاسو په شان ځواکمنه نه وي. د هغې څخه وروسته به دريمه پاچاهي وي، هغه به د برنجو پاچاهي وي او په ټوله نړی باندې به حکومت کوي.

۴۰ بیا به ځلورمه پاچاهي وي، هغه به د اوسپنې په شان قوي وي چې ټول شیان به ټوټې ټوټې او مات کړي. لکه څنګه چې اوسپنه ټول شیان میده میده کوي، هغه به ټولې مخکینۍ پاچاهۍ ماتې او میده میده کړي. ۴۱ همدارنګه تاسو هغه پښې او ګوتې ولیدلې چې یوه برخه یې د خټو څخه او بله برخه یې د اوسپنې څخه وه. د دې معنی دا ده چې هغه پاچاهي به ووېشل شي. لکه اوسپنه چې د خټو سره ګډه شوې وه، هغه به څه ناڅه د اوسپنې په شان قوي

وي. ۴۲ د ګوتو یوه برخه چې د
اوسپنې څخه او بله برخه یې د خټو
څخه وه، د هغې معنی دا ده چې د
هغې پاچاهۍ یوه برخه به قوي وي
او بله برخه به یې کمزورې وي. ۴۳
د ګوتو یوه برخه چې د اوسپنې
څخه او بله برخه یې د خټو څخه
وه، د هغې معنی دا ده چې د هغې
پاچاهۍ حاکمان به هڅه وکړي چې
خپلې کورنۍ د ودونو له لارې سره
یو موټی کړي، خو هغوی به د دې
کار توان ونه لري، لکه څنګه چې
اوسپنه او خټه له یو بل سره نه

نښلي. ۴۴ د هغو پاچاهانو په وخت
کې به د اسمانونو خدای یوه داسې
پاچاهي رامنځته کړي چې هېڅکله
به پای ته ونه رسیږي. هغه به
هېڅکله فتح نه شي، بلکې هغه به
ټولې پاچاهۍ په پوره توګه له منځه
یوسي او په خپله به تلپاتې وي. ۴۵
په هغه وخت کې چې تاسو
مجسمې ته کتل، د غره څخه یوه
لویه تیږه جدا کړای شوه، خو نه د
انسان د لاسونو په وسیله. هغه لویه
تیږه د مجسمې د اوسپنې او خټې
څخه جوړې شویو د پښو په

لاندېنیو برخو باندې ولګېدله او هغه مجسمه چې د اوسپنې، برنجو، خټو، سپینو زرو او سرو زرو څخه جوړه شوې وه، هغه یې ټوټې ټوټې کړه. لوی خدای تاسو اعلیحضرت ته وایي چې په راتلونکې کې به څه پېښ شي. ما تاسو ته کټ مټ هغه څه وویل چې تاسو په خوب کې لیدلي وو او تاسو ته مې د هغې رښتینې معنی وکړه.

## د دانیال د مقام لوړېدل

۴۶ نبوکدنصر پاچا په ځمکه

باندې پرېوت او دانیال ته یې د
درناوي سر ټیټ کړ او امر یې وکړ
چې دانیال ته دې نذرانې وړاندې
کړای شي او خوشبویي دې
وسوځول شي. ۴۷ پاچا وویل:
«اوس زه پوه شوم چې ستاسو
خدای د خدایانو خدای دی او د
ټولو پاچاهانو څښتن دی او پټ
رازونه ښکاره کوي، ځکه چې هغه
تا ته دا قدرت درکړی دی چې دا
راز څرګند کړې.»

۴۸ بیا پاچا دانیال ته لوړ مقام

ورکړ، هغه ته يې ډېر ښه او زيات سوغاتونه ورکړل او د بابل د ولايت والي او د ټولې پاچاهۍ د مشاورانو مشر يې وټاکه. ۴۹ د دانيال د غوښتنې له مخې پاچا شدرک، ميشک او عبدنغو د بابل د اداري چارو آمران وټاکل، خو دانيال په شاهي دربار کې پاتې شو.

## نبوکدنصر او د سرو زرو مجسمه

١ نبوکدنصر پاچا د سرو زرو يوه مجسمه جوړه کړه چې دېرش متره يې لوړوالی او درې متره يې

سور ؤ او هغه یې د بابل په ولایت
کې د دورا په ډاګ کې ودروله. ۲
بیا پاچا خپلو والیانو، د والیانو
مرستیالانو، مشاورانو، خزانه دارانو
او قاضیانو یعنې د ولایتونو ټولو
مامورینو ته امر وکړ چې راشي او د
هغې مجسمې د وقفولو په مراسمو
کې برخه واخلي چې نبوکدنصر پاچا
ودرولې وه. ۳ کله چې ټول
مامورین د وقفولو دپاره راټول شول
او د مجسمې په مخکې ودرېدل، ۴
جارچي په لوړ اواز سره اعلان
وکړ: «ای قومونو او ملتونو په کومه

ژبه چې تاسو خبرې کوئ، واورئ!
۵ څنګه چې تاسو د سرني، شپيلۍ،
رباب، چنګ او هر ډول موسيقۍ
اواز واورېد، تاسو بايد په سجده
پرېوځئ او د هغې سرو زرو
مجسمې عبادت وکړئ چې
نبوکدنصر پاچا ودرولې ده. ۶
هرچا چې سجده ونه کړه او عبادت
يې ونه کړ، هغه به سمدلاسه د اور
څخه ډک داش ته وغورځول شي.»
۷ نو څنګه چې هغوی د موسيقۍ د
الاتو اواز واورېد، ټولو قومونو او
ملتونو په کومه ژبه چې هغوی

خبرې کولې، د سرو زرو هغې مجسمې ته چې نبوکدنصر پاچا ودرولې وه، په سجده پرېوتل او عبادت يې وکړ.

## د اور نه ډک داش

٨ نو ځينو بابليانو د دې موقعې څخه ګټه واخيستله او د نبوکدنصر پاچا په وړاندې يې په يهوديانو باندې تور ولګاوه. ٩ هغوی پاچا ته وويل: «ای اعليحضرته، تاسو دې تل ژوندي اوسئ! ١٠ تاسو اعليحضرت امر وکړ څنګه چې د

موسیقۍ د الاتو اواز پیل شو، هر یو
باید په سجده پرېوځي او د سرو
زرو مجسمې ته عبادت وکړي (١١) او
که چېرې څوک هغې ته په سجده
پرې نه وځي او د هغې عبادت ونه
کړي، نو هغه به د اور څخه ډک
داش ته وغورځول شي. (١٢) خو
ځینې یهودیان چې تاسو د بابل د
اداري چارو آمران ټاکلي دي یعنې
شدرک، میشک او عبدنغو، هغوی
ستاسو اعلیحضرت د امر څخه
سرغړونه کوي. هغوی ستاسو د
خدای عبادت نه کوي او هغې

مجسمې ته سجده نه کوي چې تاسو ودرولې ده.»

۱۳ په دې خبره باندې پاچا ډېر په غضب شو او امر يې وکړ چې هغه درې کسان دې هغه ته راولي، نو هغه درې کسان د پاچا حضور ته راوستل شول. ۱۴ پاچا هغوی ته وويل: «ای شدرک، ميشک او عبدنغو، ايا دا رښتيا دي چې تاسو زما خدای ته د عبادت کولو او هغې د سرو زرو مجسمې ته چې ما ودرولې ده، د سجدې کولو څخه

انکار کړی دی؟ ۱۵ اوس زه تاسو ته یوه بله موقع درکوم. کله چې تاسو د موسیقۍ اواز واورېد، که چېرې مو مجسمې ته سجده وکړه او د هغې عبادت مو وکړ، نو هر څه به سم شي او که داسې ونه کړئ، تاسو به سمدلاسه د اور څخه ډک داش ته وروغورزول شئ. ایا فکر کوئ کوم خدای شته چې کولای شي تاسو زما د لاسه وژغوري؟»

۱۶ شدرک، میشک او عبدنغو ځواب ورکړ: «ای اعلیحضرته، مونږ

دې ته اړتیا نه لرو چې د خپلو
ځانونو څخه دفاع وکړو. (۱۷) که
چیرې هغه خدای چې مونږ یې
خدمت کوو د دې توان ولري چې
مونږ د اور څخه ډک داش او ستا له
لاسونو څخه وژغوري، نو هغه به
مونږ وژغوري. (۱۸) خو حتی که هغه
مونږ ونه ژغوري، تاسو اعلیحضرت
په دې پوه شئ چې مونږ به ستاسو
خدای ته عبادت او هغې سرو زرو
مجسمې ته سجده ونه کړو، کومه
چې تاسو ودرولې ده.»

# د دانیال په درېڅو ملګرو باندې د مرګ حکم

۱۹ نو نبوکدنصر ډېر په غوسه شو او په شدرک، میشک او عبدنغو باندې له قهره د هغه مخ سور واوښت. نو هغه امر وکړ چې داش دې د عادي وخت څخه اووه چنده زیات ګرم کړای شي. ۲۰ هغه د خپل لښکر ډېرو قوي عسکرو ته امر وکړ چې دا درې کسان وتړي او هغوی د اور څخه په ډک داش کې وروغورځوي. ۲۱ نو دا درې کسان

په خپلو چپنو، پرتوګونو، لونګیو او
نورو کالیو کې وتړل شول او د اور
شخه ډک داش کې وغورځول شول.
(۲۲) په دې خاطر چې پاچا ډېر
جدي امر کړی ؤ چې داش دې له
اندازې شخه زیات ګرم شي، نو
ځکه د اور لمبو هغه عسکر ووژل
چې دا درې کسان یې داش ته وړي
وو. (۲۳) نو شدرک، میشک او عبدنغو
په داسې حال کې چې تړل شوي
وو، د اور نه په ډک داش کې
وغورځول شول.

۲۴ یوناخاپه نبوکدنصر پاچا په
حیرانتیا سره د خپل ځای څخه
پورته شو او د خپلو مشاورانو څخه
یې پوښتنه وکړه: «ایا مونږ درې
کسان تړلي نه وو او د اور په داش
کې مو نه وو اچولي؟» هغوی په
ځواب کې وویل: «هو اعلیحضرته،
مونږ همداسې کړي وو.» ۲۵ هغه
پوښتنه وکړه: «نو بیا ولې زه وینم
چې څلور کسان په اور کې ګرځي؟
هغوی تړل شوي نه دي، هیڅ کوم
تاوان ورته نه دی رسېدلی او څلورم
کس یې د فرښتې په شان ښکاري.»

## د دانیال د ملګرو ازادېدل او د هغوی د مقام لوړېدل

۲۶ نو نبوکدنصر د اور د داش دروازې ته ورغی او چیغې یې کړې: «ای شدرکه، میشکه، عبدنغو، ای د خدای تعالی خدمتګارانو، راووځئ او دلته راشئ!» نو هغوی د اور د داش له منځه راووتل. ۲۷ د پاچا ټول والیان، د والیانو مرستیالان او مشاوران سره راټول شول. هغوی ولیدل چې اور د هغوی بدنونو ته ضرر نه ؤ رسولی، نه د هغوی د سر

ویښتان او نه د هغوی کالي
سوځېدلي وو. حتی د هغوی نه د
اور د سوځېدو بوی هم نه راته.

۲۸ نبوکدنصر پاچا وویل: «د
شدرک، میشک او عبدنغو خدای ته
دې ثنا او صفت وي! خدای خپله
فرښته راولېږله او دا درې کسان یې
چې د هغه خدمت کوي او په هغه
باندې توکل کوي، وژغورل. هغوی
زما د امرونو څخه سرغړونه وکړه او
پرته له خپل خدای څخه یې کوم بل
خدای ته عبادت او هغه ته د خدمت

کولو څخه دا غوره وګڼله چې مړه
شي. ۲۹ نو اوس زه امر کوم چې که
د ټولو خلکو، ملتونو یا ژبو څخه
څوک د شدرک، میشک او عبدنغو د
خدای په هکله سپکې خبرې وکړي،
نو هغه به ټوټې ټوټې کړای شي او د
هغه کور به په کنډواله باندې بدل
شي. ځکه چې د دې خدای په شان
بل خدای نشته چې څوک داسې
وژغوري.»

۳۰ بیا پاچا شدرک، میشک او
عبدنغو ته د بابل په ولایت کې لوړ

مقامونه ورکړل.

## د نبوکدنصر د دوهم خوب په هکله پیغام

١ نبوکدنصر پاچا د نړۍ د ټولو قومونو، ملتونو او ژبو خلکو ته دا لاندې پیغام واستاوه: «تاسو ټولو ته سلام!

٢ د هغو معجزو او حیرانوونکو کارونو بیان ته غوږ ونیسئ چې خدای تعالی زما دپاره کړي دي.

۳ ځومره دي لويې معجزې د
هغه

ځومره قوي دي
حيرانوونکي
کارونه د هغه

خدای تل ترتله دی پاچا

هغه به کوي پاچاهي
ټولو نسلونو باندې

۴ ما نبوکدنصر په خپله ماڼۍ
کې ارام ژوند کاوه او ډېر نېکمرغه

وم. ۵ خو کله چې ویده وم، نو یو
وېروونکی خوب مې ولید. ۶ ما
امر وکړ چې د بابل ټول مشاوران ما
ته راولي، ترڅو هغوی ما ته د خوب
معنی ووایي. ۷ نو ټول فال
کتونکي، جادوګران او نجومیان
راغلل او ما خپل خوب هغوی ته
بیان کړ، خو هغوی ونه شو کولای
چې هغه راته تعبیر کړي. ۸ خو په
اخر کې دانیال چې په هغه باندې
مې د خپل خدای نوم یعنې بلطشصر
ایښی دی، زما حضور ته راغی. په
هغه کې د سپېڅلو خدایانو روح دی.

نو هغه خوب چې ما لیدلی ؤ، هغه
ته مې داسې بیان کړ: ۹ ‹ای
بلطشصره د فال کتونکو مشره، زه
پوهېږم چې په تا کې د سپېڅلو
خدایانو روح دی او په ټولو رازونو
باندې پوهېږې. ما دا خوب لیدلی
دی، نو د هغه معنی راته ووایه.

۱۰ هغه وخت چې زه ویده وم،
ما یوه رویا ولیدله چې د ځمکې په
منځ کې یوه ډېره لوړه ونه وه. ۱۱ دا
ونه دومره قوي او لوړه شوه چې سر
یې اسمان ته ورسېده او د نړۍ ټولو

خلکو کولای شول چې هغه وويني.

١٢ د هغې پاڼې ښکلې وې او د مېوې څخه ډکه وه چې د ټولې نړۍ دپاره بس وه. د هغې د سيوري لاندې حيوانات پرېوتل، مرغانو د هغې په څانګو کې ځالې جوړې کړې وې او هر ډول ژونديو موجوداتو د هغې مېوه خوړله.

١٣ کله چې ما د دې رويا په هکله فکر کاوه، د اسمان څخه يوه څارونکې او سپېڅلې فرښته راښکته شوه. ١۴ هغې په لوړ اواز سره

وویل: دا ونه ووهئ، د هغې څانګې
پرې کړئ، پاڼې یې وشکوئ او مېوه
یې تیته کړئ. د هغې لاندې پراته
حیوانات وشړئ او د هغې د څانګو
څخه مرغان لېرې کړئ. ۱۵ خو د
هغې تنه او ریښې په ځمکه کې
پرېږدئ او په اوسپنې او برنجو
باندې یې وتړئ.

هغه د ونې تنه چې یو انسان ته
اشاره کوي، هغه د صحرا په واښو
کې پرېږدئ. نو پرېږدئ چې د
اسمان پرخه هغه لوند کړي او هغه د

حیواناتو سره د صحرا د بوټو په منځ
کې ژوند وکړي. ۱۶ هغه دې د اوو
کالو دپاره انساني ذهن ونه لري،
بلکې د هغه ذهن به حیواني وي. ۱۷
دا د ښارونکو او سپیڅلو فرښتو
پریکړه ده، ترڅو ټول خلک چې په
هر ځای کې دي، په دې باندې پوه
شي چې خدای تعالی په ټولو انساني
پاچاهیو باندې قدرت لري او هرچا
ته چې وغواړي هغه ته پاچاهي
ورکوي، که هغه د ډېرو ټیټو خلکو
څخه هم وي.»

۱۸ نبوکدنصر پاچا خپلې خبرې پای ته ورسولې او ویې ویل: «دا هغه خوب ؤ چې ما لیدلی ؤ. نو ای بلطشصره، اوس ووایه چې د دې معنی څه ده. زما د شاهي مشاورانو څخه هېڅوک هم ونه شو کولای چې د هغه معنی راته ووایي، خو ته یې کولای شې، ځکه چې په تا کې د سپېڅلو خدایانو روح دی.»

## د پاچا د دوهم خوب تعبیرول

۱۹ دانیال چې د بلطشصر په نوم هم یادېده، په دې خبره د لږ وخت

دپاره دومره وارخطا شو چې هېڅ

یې ونه شو ویلی. پاچا هغه ته

وویل: «ای بلطشصره، د خوب او د

هغه د تعبیر څخه مه وېرېږه.»

بلطشصر په ځواب کې وویل:

«اعلیحضرته، کاشکې دا خوب او د

هغه تعبیر ستاسو په دښمنانو او په

هغو خلکو باندې عملي شي چې

ستاسو څخه کرکه کوي، نه په تاسو

باندې. ۲۰ دا ونه دومره قوي او لوړه

شوه چې سر یې اسمان ته ورسېده

او د نړۍ ټولو خلکو کولای شول

چې هغه ووینې. ۲۱ د هغې پاڼې

ښکلې وې او د مېوې څخه ډکه وه چې د ټولې نړۍ دپاره بس وه. د هغې د سیوري لاندې حیوانات پرېوتل او مرغانو د هغې په څانګو کې ځالې جوړې کړې وې.

٢٢ ای اعلیحضرته، هغه ونه تاسو یئ، چې لوړ او قوي یئ. تاسو دومره لوی شوئ چې لوی والی مو تر اسمانه پورې رسیږي او ستاسو قدرت د نړۍ لیرې برخو پورې رسېدلی دی. ٢٣ اعلیحضرته، تاسو ولیدل چې یوه څارونکې او سپېڅلې

فرښته د اسمان څخه راښکته شوه او
ويې ويل: ‹دا ونه ووهئ او هغه له
منځه يوسئ، خو د هغې تنه او
ريښې په ځمکه کې پرېږدئ. هغه په
اوسپنې او برنجو باندې وتړئ او
هلته يې د صحرا په واښو کې
پرېږدئ. نو پرېږدئ چې د اسمان
پرخه هغه لوند کړي او پرېږدئ چې
هغه اووه کاله د حیواناتو سره ژوند
وکړي.›

٢۴ ای اعلیحضرته، دا ستاسو د
خوب تعبير دی او دا هغه حکم دی

چې خدای تعالی زما د بادار یعنې
ستاسو دپاره جاري کړی دی: ٢٥
‹تاسو به د انساني ټولنې ښخه
وشړل شئ او د حیواناتو سره به
اوسېږئ. تاسو به اووه کاله د غویي
په شان وابنه خورئ او په صحرا
یعنې هغه ځای کې به خوب کوئ
چېرته چې به په تاسو باندې پرخه
اوریږي. بیا به تاسو دا ومنئ چې
خدای تعالی په ټولو انساني پاچاهیو
باندې واک لري او هرچا ته چې
وغواړي هغه ته پاچاهي ورکوي.
٢٦ فربنتې امر وکړ چې تنه او

ریښې دې په ځمکه کې پاتې شي. د دې معنی دا ده چې کله تاسو په دې باندې اقرار وکړئ چې خدای تعالی په ټوله نړۍ باندې پاچاهي کوي، نو تاسو به بیا پاچا شئ. ۲۷ نو ای اعلیحضرته، زما نصیحت قبول کړئ. ګناه کول بس کړئ، هغه څه وکړئ چې سم وي او په مظلومانو باندې رحم وکړئ. نو کېدای شي چې تاسو به یوځل بیا نېکمرغه شئ.›»

## د پاچاهۍ څخه د نبوکدنصر لېرې کېدل

۲۸ دا ټولې پېښې په نبوکدنصر
پاچا باندې وشوې. ۲۹ وروسته له
دولسو مياشتو کله چې هغه په بابل
کې د خپلې شاهي ماڼۍ په بام باندې
قدم واهه، ۳۰ هغه وويل: «وګوره
بابل څومره لوی دی! هغه مې په
خپل قدرت او قوت د شاهانه
استوګنځي په توګه جوړ کړی دی،
ترڅو خپل شان او شوکت ښکاره
کړم.»

۳۱ د هغه خبرې لا پای ته نه
وې رسېدلې چې د اسمان څخه يو

اواز راغی: «ای نبوکدنصر پاچا، زما خبره واوره! ستا څخه پاچاهي واخیستل شوه. ۳۲ ته به د انساني ټولنې څخه وشړل شې، د وحشي حیواناتو سره به ژوند وکړې او اووه کاله به د غويي په شان واښه وخورې. بیا به ومنې چې خدای تعالی په ټولو پاچاهیو باندې واک لري او هرچا ته چې وغواړي هغه ته پاچاهي ورکولای شي.»

۳۳ دا خبره ډېر زر رښتیا شوه. نبوکدنصر د انساني ټولنې څخه

وشړل شو او د غويي په شان يې
وابنه خوړل. د هغه په بدن باندې
پرخه پرېوتله، د هغه ويښتان د
عقاب د بڼکو په شان لوی شول او د
هغه نوکان د مرغۍ د پنجو په شان
اوږده شول.

## د پاچاهۍ مقام ته د نبوکدنصر بېرته راستنېدل

۳۴ پاچا وويل: «کله چې اووه
کاله تير شول، ما پورته اسمان ته
وکتل او زما عقل بېرته ما ته راغی.
ما د خدای تعالی ثنا وويله او هغه

ته مې چې تل ترتله ژوندی دی،
جلال او لویي ورکړه.

هغه کوي تل ترتله پاچاهي

هغه به کوي پاچاهي
په ټولو نسلونو
باندې

(۳۵) د هغه دپاره هیڅ نه دي ټول
خلک د نړی

نه په اسمان کې د
فرښتو لښکر او نه

په ځمکه باندې
خلک

هېڅوک نه شي کولای چې
وکړي مخالفت د هغه د
ارادې

او یا وکړي پوښتنه د
هغه څخه چې څه
کوي هغه

٣٦ کله چې زما عقل بېرته ما ته
راغی، زما لویي او زما د پاچاهۍ
شان او شوکت بېرته ما ته راکړل

شول. زما مشاوران او درباریان
بېرته ما ته راغلل او ما ته خپل
شاهي قدرت د پخوا څخه د زیات
عزت سره بېرته راکړل شو.

۳۷ اوس زه نبوکدنصر د
اسمانونو خدای ته ثنا وایم او هغه
ته جلال او لویي ورکوم. هغه چې
هر څه کوي هغه سم او عادلانه دي
او هغه کولای شي چې مغرور خلک
ټیټ او سپک کړي.»

## د بلشصر مېلمستیا

١ يوه ورځ بلشصر پاچا خپلو زرو تنو درباريانو ته يوه مېلمستيا وکړه او د هغوی سره يې شراب وڅښل. ٢ په داسې حال کې چې بلشصر پاچا نشه ؤ، هغه امر وکړ چې هغه د سرو او سپينو زرو جامونه او کاسې چې د هغه پلار نبوکدنصر په اورشليم کې د خدای د کور څخه راوړي وو، د مېلمستيا سالون ته راوړي. هغه غوښتل چې دی پخپله، د هغه درباريان، د هغه ښځې او د هغه وينځې په هغو کې شراب وڅښي. ٣ نو بيا هغوی د

سرو زرو جامونه او کاسې راوړې
کومې چې په اورشلیم کې د خدای
د کور څخه راوړل شوې وې او
هغوی ټولو په هغو کې شراب
وڅښل. ۴ بیا یې د هغو بتانو ثنا او
صفت وکړ چې د سرو او سپینو زرو،
برنجو، اوسپنې، لرګیو او تیږو څخه
جوړ شوي وو.

۵ یوناڅاپه د انسان لاس
رانبکاره شو او د ماڼۍ د دېوال په
پلستر باندې یې چې هلته د څراغ
رڼا ځلېدله، په لیکلو پیل وکړ. پاچا

هغه لاس د ليکلو په وخت کې وليده. ۶ د هغه رنګ والوت او دومره وویرېده چې پښې او زنګنونو يې په لړزېدلو پيل وکړ. ۷ هغه په لوړ اواز امر وکړ چې جادوګران او نجوميان راولي. کله چې هغوی ورننوتل، پاچا هغوی ته وويل: «هرڅوک چې وکولای شي دا ليکنه ولولي او د هغه معنی راته ووايي، نو هغه ته به شاهي بانجاني چپنه ورواغوستل شي، د هغه په غاړه کې به طلايي زنځير واچول شي او په پاچاهۍ کې به د واک له مخې درېم

کس وي.» ⑧ نو بیا ټول شاهي

مشاوران راغلل، خو د هغو څخه

هېچا هم ونه شو کولای چې هغه

لیکنه ولولي او یا پاچا ته د هغې

معنی ووایي. ⑨ نو بلشصر پاچا ډېر

ووېرېده او د هغه د مخ رنګ

والوت. د هغه درباریان هم وارخطا

شول.

⑩ کله چې د پاچا مور، د پاچا

او د هغه د درباریانو شورماشور

واورېد، نو د مېلمستیا سالون ته

ورننوتله. هغې ووېل: «ای

اعلیحضرته، تاسو دې تل ژوندي اوسئ! دومره مه وېرېږئ چې د مخ رنګ مو والوځي. (۱۱) ستاسو په پاچاهۍ کې یو سړی شته چې په هغه کې د سپېڅلو خدایانو روح دی. کله چې ستاسو پلار پاچا ؤ، هغه د خدایانو په شان ښه عقل، پوهه او حکمت ښکاره کړ. ستاسو پلار نبوکدنصر پاچا هغه د فال کتونکو، جادوګرانو او نجومیانو مشر وټاکه. (۱۲) هغه بې‌ساری قابلیت او پوهه لري، د خوبونو په تعبیرولو او د معماګانو په حل کولو کې مهارت

لري او پټ رازونه ښکاره کوي. نو
هغه سړی يعنې دانيال چې نبوکدنصر
ورباندې بلطشصر نوم ايښی ؤ،
راوغواړه او هغه به تاسو ته د دې
ليکنې معنی ووايي.»

## دانيال او د ليکنې معنی

١٣ دانيال د پاچا حضور ته
راوستل شو او پاچا د هغه څخه
پوښتنه وکړه: «ايا ته هماغه دانيال
يې او د هغو اسيرانو څخه يې چې
زما پلار د يهودا څخه راوستلي وو؟
١۴ ما اورېدلي دي چې په تا کې د

خدایانو روح دی، په تا کې ښه عقل
شته او د پوهې او حکمت خاوند
یې. ۱۵ همدا اوس مشاوران او
جادوګران دلته راوستل شول چې دا
لیکنه ولولي او د هغې معنی ما ته
ووایي، خو هغوی ونه شو کولای
چې دا کار وکړي. ۱۶ ستا په اړه ما
اورېدلي دي چې ته د خوب تعبیر
کولای شې او پټ رازونه بیانولی
شې. که چېرې تا دا لیکنه ولوستلی
شوه او د هغې معنی دې راته وویله،
تا ته به شاهي بانجاني چپنه
دراواغوستل شي، طلایي زنځیر به

ستا په غاړه کې واچول شي او ته به
په پاچاهۍ کې د واک له مخې دریم
کس شې.»

۱۷ دانیال په ځواب کې وویل:
«مهرباني وکړئ، خپل سوغاتونه مو
له ځان سره وساتئ او یا یې بل چا
ته ورکړئ. خو څه چې لیکل شوي
دي هغه به تاسو اعلیحضرت ته
ولولم او د هغې معنی به تاسو ته
ووایم. ۱۸ اعلیحضرته، خدای تعالی
ستاسو د پلار څخه یو لوی پاچا
جوړ کړ او هغه ته یې عزت، شان او

شوکت ورکړ. (۱۹) د هغه لوی مقام له املـه چې خدای هغه ته ورکړی ؤ، د ټولو قومونو، ملتونو او ژبو خلک د هغه څخه ویرېدل او لړزېدل. که هغه غوښتل چې څوک ووژني، نو هغه یې واژه او که غوښتل یې چې څوک ژوندی پرېږدي، نو هغه یې ژوندی پرېښوده. هرچا ته چې هغه غوښتل، نو هغه ته یې عزت ورکاوه او یا به یې سپکاوه. (۲۰) خو هغه مغرور او زړه یې سخت شو، نو هغه د خپل شاهي تخت څخه لېرې کړای شو او باعزته مقام یې له لاسه ورکړ. (۲۱)

هغه د انساني ټولنې څخه وشړل
شو او د هغه عقل د حیوان په شان
شو. هغه د وحشي خرو سره
اوسېده، د غوبي په شان یې واښه
خوړل او په صحرا یعنې هغه ځای
کې به یې خوب کاوه چېرته چې
پرخه ورېدله. په پای کې هغه دا
ومنله چې خدای تعالی په ټولو
انساني پاچاهیو باندې واک لري او
هرچا ته چې وغواړي هغه ته
پاچاهي ورکوي. ۲۲ خو ای د
نبوکدنصر زویه بلشصره، که څه هم
تاسو په دې ټولو شیانو باندې

پوهېږئ، سره له دې هم تاسو خپل ځان عاجز نه کړ. (۲۳) بلکې تاسو د اسمانونو د خدای په ضد عمل وکړ او د هغه د کور جامونه او کاسې مو دلته راوړلې. تاسو، ستاسو درباریانو، ستاسو ښځو او وینځو په هغو کې شراب وڅښل او هغو بتانو ته مو ثنا او صفت ووایه چې د سرو او سپینو زرو، برنجو، اوسپنې، لرګیو او تیږو څخه جوړ شوي وو یعنې هغه بتان چې نه څه لیدلی شي او نه څه اورېدلی شي او په هېڅ شي باندې نه پوهېږي. خو د هغه خدای عزت

مو ونه کړ چې ستاسو د مرګ او
ژوند پرېکړه کوي او ستاسو ټول
کارونه د هغه په لاس کې دي. (۲۴)
په دې خاطر خدای دا لاس راولېږه
چې دا خبرې ولیکي.

(۲۵) دا هغه شیان دي چې لیکل
شوي وو: ‹منه، منه، تقیل، فرسین›
یعني ‹شمېر، شمېر، وزن شوی،
وېشل شوی.› (۲۶) د دې لغتونو معنی
دا ده: منه یعنی شمېر، خدای ستاسو
د پاچاهۍ ورځې شمېرلې او هغه یې
پای ته رسولې دي. (۲۷) تقیل یعني

وزن شوې، تاسو په ترازو باندې
تلل شوي يئ او دا معلومه شوې ده
چې ډېر سپک يئ. ٢٨ فرسين يعنې
وېشل شوی، ستاسو پاچاهي وېشل
شوې ده او هغه ماديانو او فارسيانو
ته ورکړل شوې ده.»

٢٩ نو بلشصر خپلو خدمتګارانو
ته امر وکړ چې دانيال ته شاهي
بانجاني چپنه ورواغوندي، د هغه په
غاړه کې طلايي زنځير واچوي او
هغه په پاچاهۍ کې د واک له مخې
دريم سړی اعلان کړي.

۳۰ په هماغه شپه بابلی پاچا
بلشصر ووژل شو ۳۱ او مدیاني
داریوش چې په هغه وخت کې
تقریبا دوه شپېته کلن ؤ، د هغه
پاچاهي ونیوله.

## دانیال د زمریانو په کنده کې

۱ داریوش پرېکړه وکړه چې یو
سلو شل والیان وټاکي چې د هغه
ټوله پاچاهي اداره کړي. ۲ برسېره
پردې، هغه دانیال او دوه نور کسان
د وزیرانو په توګه وټاکل چې د
والیانو څارنه او د پاچا د ګټو ساتنه

وکړي. ۳ دانیال ډېر زر دا وښودله
چې هغه د نورو څارونکو او والیانو
څخه ښه کار کولای شي، ځکه چې
هغه ډېر تکړه ؤ. پاچا په نظر کې
درلود چې هغه د ټولې پاچاهۍ
مسوول وټاکي. ۴ نو نورو
څارونکو او والیانو هڅه وکړه چې
په دانیال کې د پاچاهۍ د اداره کولو
په لاره کې کومه غلطي راپیدا کړي،
خو هغوی دا کار ونه شو کولای.
ځکه چې دانیال یو صادق او
اعتباري سړی ؤ او داسې کار یې نه
کاوه چې په هغه کې ټګي یا غلطي

وي. ۵ نو هغوی يو بل ته وويل:
«مونږ نه شو کولای چې داسې کوم
شی پيدا کړو چې دانيال ورباندې
تورن کړو، خو که وکولای شو چې
د هغه د دين په هکله کوم شی
راپيدا کړو.»

۶ نو خارونکي او واليان يو
ځای پاچا ته ورغلل او ورته ويې
ويل: «ای داريوش پاچا، تاسو دې
تل ژوندي اوسئ! ۷ مونږ ټولو
خارونکو، واليانو، د واليانو
مرستيالانو او نورو مشاورانو په دې

موافقه وکړه چې تاسو اعلیحضرت یو فرمان جاري کړئ او هغه په کلکه عملي کړئ. امر وکړئ چې د دېرشو ورځو دپاره هېچا ته اجازه نشته چې هغه پرته له تاسو اعلیحضرت څخه د کوم خدای یا کوم انسان څخه د کوم شي غوښتنه وکړي. هرڅوک که د دې امر څخه سرغړونه وکړي، هغه به په هغې کندې کې وغورځول شي چې د زمريانو څخه ډکه ده. ۸ اوس تاسو اعلیحضرت دا فرمان جاري او هغه لاسلیک کړئ، نو هغه به عملي شي.

هغه دې د مادیانو او فارسیانو د
قانون په شان وي او باید بدلون په
کې رانه شي.» ۹ نو داریوش پاچا
هغه فرمان لاسلیک کړ.

۱۰ کله چې دانیال خبر شو چې
داسې یو فرمان لاسلیک شوی دی،
نو هغه خپل کور ته لاړ. د هغه د
کور په پاسنی کوټه کې کړکۍګانې
وې چې اورشلیم ته مخامخ وې.
لکه څنګه به چې هغه تل داسې
کول، هغه په خلاصو کړکیو کې په
ګونډو کېده او د ورځې به یې درې

واري د خدای ستاينه او هغه ته دعا کوله. ۱۱ کله چې د دانيال دښمنان راغلل او ويې ليدل چې هغه خپل خدای ته دعا او غوښتنه کوي، ۱۲ هغوی ټول پاچا ته ورغلل او د هغه د فرمان په هکله يې وويل: «ای اعليحضرته، تاسو فرمان ورکړی ؤ چې که څوک د دېرشو ورځو دپاره ستاسو څخه پرته د کوم خدای يا د کوم بل انسان څخه د کوم شي غوښتنه وکړي، نو هغه به په هغې کندې کې وغورځول شي چې د زمريانو څخه ډکه ده.» بيا پاچا

هغوی ته وویل: «هو، دا یو سخت
فرمان دی او د مادیانو او فارسیانو
قانون دی چې باید بدلون په کې
رانه شي.» ۱۳ بیا هغوی پاچا ته
وویل: «دانیال چې د یهودي
جلاوطنو څخه دی، ستاسو
اعلیحضرت درناوی نه کوي او هغه
فرمان چې تاسو جاري کړی دی د
هغه څخه اطاعت نه کوي. هغه د
ورځې درې واره خپل خدای ته
دعا کوي.»

۱۴ کله چې پاچا دا خبره

واورېدله، نو هغه ډېر خفه شو. هغه پرېکړه وکړه چې دانیال وژغورې او تر مازدیګره پورې په دې فکر کې ؤ چې هغه څنګه وژغورې. ۱۵ بیا هغه کسان مازدیګر بېرته پاچا ته راغلل او هغه ته یې وویل: «تاسو اعلیحضرت پوهېږئ چې د مادیانو او فارسیانو د قانون له مخې د پاچا له خوا جاري شوی فرمان بدلېدونکی نه دی.»

۱۶ نو پاچا امر وکړ چې دانیال دې راوستل شي او د زمریانو څخه

په ډکه کنده کې دې وغورځول شي.
هغه دانیال ته وویل: «ستا خدای
دې تا وژغوري چې په وفادارۍ
سره د هغه خدمت کوې.» ۱۷ د
هغې کندې په خوله کې تیږه
کېښودل شوه او پاچا په هغې تیږې
باندې خپل شاهي مهر او د خپلو
درباریانو مهر ولګاوه، ترڅو د پاچا
امر د دانیال په هکله بدل نه شي.
۱۸ نو پاچا بېرته خپلې ماڼۍ ته
راستون شو، هېڅ شی یې ونه خوړ،
نه یې تفریح وکړه، نه یې عیش او
عشرت وکړ او نه یې ټوله شپه

خوب وکړ.

۱۹ سهار وختي پاچا پاڅېده او
په بيړه د زمريو کندې ته ورغی. ۲۰
کله چې هغه هلته ورسېده، په
پرېشانۍ سره يې چيغې ووهلې: «ای
دانياله، د ژوندي خدای خدمتګاره!
ايا ستا خدای چې ته په ډېره
وفادارۍ سره د هغه خدمت کوې،
وکولای شول چې تا د زمريانو څخه
وژغوري؟» ۲۱ دانيال په ځواب کې
وويل: «ای اعليحضرته، تاسو دې
تل ژوندي اوسئ. ۲۲ زما خدای

خپله فرښته راولېږله چې د زمريانو
خولې وتړي، ترڅو هغوی ما ته
زيان ونه رسوي. زما خدای ځکه دا
کار وکړ چې زه د هغه په حضور کې
بې‌ګناه وم او تاسو اعليحضرت ته
مې هم کوم زيان نه دی رسولی.»

٢٣ پاچا ډېر زيات خوشحاله شو
او امر يې وکړ چې دانيال دې له
کندې څخه راويستل شي. نو هغه
يې راوويست او هغوی وليدل چې
دانيال ته هېڅ کوم زيان نه ؤ
رسبدلی، ځکه چې هغه په خپل

خدای باندې باور درلود. ۲۴ بیا
پاچا امر وکړ چې هغه خلک چې په
دانیال باندې یې تور لګولی ؤ هغوی
دې راوستل شي. هغوی یې د خپلو
ښځو او اولادونو سره د زمریانو په
کنده کې وغورځول. مخکې له دې
چې هغوی د کندې بېخ ته
ورورسیږي، زمریانو ورباندې
ورټوپ کړل او د هغوی ټول هډوکې
یې ټوټې ټوټې کړل.

۲۵ وروسته له دې، داریوش
پاچا د نړۍ ټولو قومونو، ملتونو او د

مختلفو ژبو خلکو ته ولیکل:

«تاسو ټولو ته سلام! ۲۶ زه امر کوم چې زما په ټوله پاچاهۍ کې باید هر یو تن د دانیال د خدای څخه وویرېږي او د هغه درناوی وکړي.

ژوندی خدای دی هغه

او هغه به کوي تل
ترتله پاچاهي

له منځه نه به ځي هېڅکله

پاچاهي د هغه

او نه به رسيږي پای
ته هيڅکله قدرت
د هغه

۲۷ هغه دی چې ورکوي نجات
او خلاصون

کوي په ځمکه او
اسمان کې معجزې
او عجيبه کارونه

او وژغوره دانيال يې د

زمريو له لاسه»

٢٨ دانيال د داريوش او د فارس د کوروش د پاچاهۍ په دوران کې بريالی ؤ.

## د څلورو ځناورانو په هکله د دانيال روياګانې

١ د بابل د پاچا بلشصر د پاچاهۍ په لومړي کال ما دانيال يوه شپه په خوب کې روياګانې وليدلې او هغه مې داسې وليکلې.

(٢) په خوب کې مې ولیدل چې
له هرې خوا بادونو یو لوی بحر
خوځاوه. (٣) څلور لوی ځناوران د
بحر څخه راووتل، هر یو یې یو د
بل څخه فرق درلود. (۴) لومړنی یې
د زمري په شان ښکارېده، خو د
عقاب په شان وزرونه یې درلودل.
په داسې حال کې چې ما ورته کتل،
د هغه وزرونه وشکول شول. بیا هغه
پورته کړای شو او د انسان په شان
په دوه پښو باندې ودرېده او هغه ته
د انسان عقل ورکړل شو.

٥ دوهم ځناور د اېږي په شان ښکارېده چې په خپلو پښو باندې ولاړ ؤ. هغه په خپلو غاښونو کې درې پوښتۍ نیولې وې او یو اواز راغی او هغه ته یې وویل: «حمله وکړه، څومره غوښه چې خوړلی شې هغومره وخوره!»

٦ په داسې حال کې چې ما کتل، یو بل ځناور راښکاره شو. هغه د پړانګ په شان ښکارېده، خو د هغه په شا باندې د مرغیو د وزرونو په شان څلور وزرونه وو او هغه

ځلور سرونه درلودل. هغه ته د حکومت کولو اختیار ورکړل شوی ؤ.

⑦ ما کتل چې ځلورم ځناور رابښکاره شو. هغه ډېر قوي او وېروونکی ؤ. هغه د اوسپنې غټ غاښونه درلودل چې خپل ښکار به يې ورباندې ټوټې ټوټې کاوه، خوړل به يې او پاتې به يې تر پښو لاندې کول. هغه د ټولو مخکينيو ځناورو څخه فرق درلود، ځکه چې لس ښکرونه يې درلودل. ⑧ کله چې ما

هغو ښکرونو ته په ځیر کتل، ما ولیدل چې د نورو ښکرونو له منځ څخه یو وړوکی ښکر راووت او پخواني درې ښکرونه له بېخه وویستل شول. هغه ښکر د انسان په شان سترګې درلودلې او خوله یې درلوده چې په هغې باندې یې په غرور سره لافې وهلې.

**د هغه چا په هکله رویا چې د ازل نه موجود دی**

٩ په داسې حال کې چې ما کتل، ما ولیدل چې تختونه په یو

ځای کې کېښودل شول. د دې
تختونو څخه په یو تخت باندې هغه
څوک کښېناست چې د ازل نه
موجود دی. د هغه کالي د واورې په
شان سپین وو او د هغه ویښتان د
سوچه وړیو په شان وو. د هغه تخت
او ارابې د اور څخه ډکې وې چې د
اور لمبې ورڅخه پورته کېدلې ١٠ او
د هغه د حضور څخه د اور سیند
بهېده. په هغه ځای کې په زرګونو
خلکو د هغه خدمت کاوه او په
میلیونونو خلک یې په مخکې ولاړ
وو. محکمې خپله غونډه شروع کړه

او کتابونه پرانیستل شول.

⑪ په داسې حال کې چې ما کتل، د هغه وړوکي ښکر اواز مې واورېد چې لاڅي يې وهلې. کله چې ما وکتل، هغه څلورم ځناور ووژل شو او د هغه مړی د اور په لمبو کې وغورځول شو او له منځه لاړ. ⑫ د نورو ځناورانو څخه د حکومت کولو اختيار واخيستل شو، خو هغوی ته اجازه ورکړل شوه چې د يو ټاکلي وخت پورې ژوند وکړي. ⑬ د شپې ما په خپله رويا کې وليدل چې زما

په مخکې د انسان د زوی په شان يو ښوک ؤ چې په اسمان کې د ورېځو سره راروان ؤ او هغه چا ته ورسېده چې د ازل نه موجود دی او د هغه حضور ته حاضر کړای شو. (۱۴) هغه ته اختيار، عزت او شاهانه قدرت ورکړ شو، ترڅو د ټولو قومونو، نژادونو او ژبو خلک د هغه خدمت وکړي. د هغه واکمني به تر ابده پورې دوام ومومي او د هغه پاچاهي به هېڅکله له منځه لاړه نه شي.

## د دانيال د رويا تعبير

۱۵ دا رویا چې ما دانیال ولیدله،
زه یې ووېرولم او ډېر یې پرېشانه
کړم. ۱۶ د هغو کسانو څخه چې
هلته ولاړ وو، یو کس ته ورغلم او
د هغه څخه مې وغوښتل چې دا هر
څه راته بیان کړي. نو هغه یې معنی
راته وویله. ۱۷ هغه وویل: «دا څلور
لوی ځناوران څلور پاچاهۍ دي
چې په ځمکې باندې به رابنکاره
شي. ۱۸ خو د خدای تعالی سپېڅلي
خلک به پاچاهي ترلاسه کړي او
هغه به د تل دپاره وساتي.» ۱۹ بیا
ما غوښتل چې د څلورم ځناور په

اصلي معنی باندې پوه شم چې د
نورو ټولو ځناورانو څخه یې فرق
درلود او ډېر وېرووونکی ؤ چې د
اوسپنې غاښونه او برنجې پنجې یې
درلودلې. دا هغه ځناور ؤ چې خپل
ښکار به یې ټوټې ټوټې کاوه، خوړل
به یې او څه به چې پاتې کېدل هغه
به یې تر پښو لاندې کول. ۲۰
همدارنګه ما غوښتل د هغو لسو
ښکرونو په باره کې پوه شم چې د
هغه په سر کې وو او هغه ښکر چې
وروسته راووت او د درې ښکرونو
ځای یې ونیوه. هغه سترګې درلودلې

او خوله يې لرله چې په غرور سره
به يې ورباندې لافې وهلې. هغه د
نورو څخه ډېر زيات وېرووونکی ؤ.

٢١ په داسې حال کې چې ما
کتل، ما ولیدل چې هغه ښکر د
خدای د سپېڅلو خلکو سره جنګ
وکړ او په هغوی باندې بریالی شو.
٢٢ بیا هغه څوک چې د ازل نه
موجود دی، راغی او د خپلو
سپېڅلو خلکو په طرفداری یې خپله
پرېکړه اعلان کړه، ځکه چې هغه
وخت راورسېد چې د خدای قوم

پاچاهي ترلاسه کړي.

۲۳ دا هغه تعبير دی چې هغه ما ته بيان کړ: «څلورم ځناور څلورمه پاچاهي ده چې د ځمکې په مخ به رامنځته شي او د نورو پاچاهيو څخه به فرق ولري. هغه به ټوله نړۍ ټوټې ټوټې کړي او هغه به تر پښو لاندې کړي. ۲۴ لس ښکرونه لس پاچاهان دي چې په دې پاچاهۍ باندې به حکومت کوي. بيا به يو بل پاچا رامنځته شي، هغه به د مخکينيو څخه فرق ولري او هغه درې

پاچاهان به له پښو وغورځوي. ۲۵
هغه به د خدای تعالی په ضد خبرې
کوي او د هغه په سپېڅلو خلکو
باندې به ظلم کوي. هغه به هڅه
وکړي چې د هغوی مذهبي قوانین او
اخترونه بدل کړي او د خدای
سپېڅلي خلک به درې نیم کاله د
هغه د واک لاندې وي. ۲۶ بیا به
اسماني محکمه قضاوت ته کښېني، د
هغه څخه به پاچاهي واخلي او هغه
به بیخي له منځه یوسي. ۲۷ د نړۍ د
ټولو پاچاهیو قدرت او لویي به د
خدای تعالی سپېڅلو خلکو ته

ورکړل شي. د هغوی شاهي قدرت به پای ته نه رسیږي او د نړی ټول پاچاهان به د هغوی خدمت او اطاعت کوي.»

٢٨ دا هغه څه وو چې ما لیدلي او اوریدلي وو. له ویرې څخه مې رنګ الوتی ؤ او دا هر څه مې په خپل زړه کې وساتل.

## د پسه او وزې په هکله د دانیال رویا

١ د بلشصر د پاچاهی په دریم کال ما دانیال بله رویا ولیدله. ٢ په

رویا کې مې ولیدل چې زه د عیلام
د ولایت د شوش د ښار په
بالاحصار کې یم او د اولای د سیند
په غاړه ولاړ وم. ۳ کله چې ما
وکتل، نو ومې لیدل چې د سیند په
غاړه یو پسه ولاړ دی چې په سر
کې یې دوه اوږده ښکرونه وو، خو
یو ښکر یې د بل څخه اوږد ؤ او
هغه اوږد ښکر وروسته راووت. ۴
ما ولیدل چې دې پسه لوېدیځ،
شمال او جنوب خواته ښکرونه
وهل. هېڅ حیوان نه شو کولای چې
د هغه په وړاندې ودرېږي او هېڅ یو

نه شو کولای چې خپل ځان له هغه
څخه خلاص کړي. څنګه چې د
هغه خوښه وه همااغسې یې کول او
هغه ډېر قوي شو.

⑤ په داسې حال کې چې ما په
ځیر ځیر کتل، ومې لیدل چې د
لوېدیځې خوا څخه یو سېرلی راغی
او د ځمکې د مخ څخه داسې زر
تېر شو چې پښې یې ځمکې ته نه
رسېدلې. د هغه د سترګو په منځ کې
یو لوی ښکر ؤ. ⑥ سېرلی د هغه
پسه خواته ورغی چې ما لیدلی ؤ

چې د سیند په غاړه ولاړ ؤ. هغه ډېر
په قهر ؤ او په خپل ټول قوت سره
یې په پسه باندې حمله وکړه. ٧ ما
وکتل چې هغه په پسه باندې حمله
وکړه. هغه ډېر په قهر ؤ او پسه یې
وواهه او دواړه ښکرونه یې ورمات
کړل. په پسه کې دومره قوت پاتې نه
ؤ چې مقاومت ورسره وکړي. هغه
یې په ځمکه باندې ګوزار کړ او تر
پښو لاندې یې کړ او هېڅوک نه ؤ
چې هغه ورڅخه خلاص کړي.

٨ هغه سېرلی ډېر قوي شو، خو

د خپل زيات قوت په وخت کې د
هغه لوی ښکر مات شو او د هغه په
ځای څلورو خواو ته څلور لوی
ښکرونه راووتل. ⑨ د دې څلورو
ښکرونو څخه په يوه باندې يو
وړوکی ښکر راووت چې د هغه
قوت تر جنوب او ختيځ او د
اسراييلو د ښکلي وطن پورې
رسېده. ⑩ هغه دومره قوي شو چې
په اسماني لښکرو يې حمله وکړه او
ځينې اسماني لښکرې او ستورې يې
په ځمکه راګوزار کړل او تر پښو
لاندې يې کړل. ⑪ حتی هغه د

اسماني لښکرو د قوماندان په خلاف سرغړونه وکړه، هغه قرباني يې هم بندي کړې چې هره ورځ به ښښتن ته وړاندې کېدلې او د هغه کور يې وران کړ. ۱۲ د کوچني ښکر د سرکښۍ له امله د خدای قوم ورته تسليم شو او ورځنۍ قرباني بندې شوې. حقيقت له منځه لاړ او هغه ښکر چې هر څه کول هغه په کې بريالی ؤ.

۱۳ بيا ما واورېدل چې يوې فرښتې د بلې فرښتې څخه پوښتنه

وکړه: «دغه شیان چې په رویا کې ولیدل شول هغه به ترڅو پورې دوام ولري؟ ترڅو پورې به د ورځنیو قربانیو ځای وېرووونکې ګناه نیولی وي؟ ترڅو پورې به اسماني لښکرې او د خدای کور تر پښو لاندې کېږي؟»

۱۴ ما واورېدل چې هغې بلې فرښتې په ځواب کې وویل: «دا به د دوه زره او درې سوه ماښامه او سهاره پورې دوام ومومي، چې په دې موده کې به قربانۍ نه وړاندې

کیږي. بیا به د خدای کور بېرته
سپېڅلی کړای شي.»

## جبراییل فرښته رویا تعبیروي

۱۵ ما کوښښ کاوه چې د رویا
په معنی باندې پوه شم، په دې
وخت کې په ناڅاپي ډول د سړي په
شکل یو څوک زما په مخکې
ودرېده. ۱۶ د اولای د سیند څخه
مې د سړي اواز واورېد چې ویې
ویل: «ای جبراییله، هغه ته د دې
رویا معنی بیان کړه.» ۱۷ جبراییل
راغی او زما په څنګ کې ودرېده او

زه دومره ووېرېدم چې په ځمکه
باندې ولوېدم. هغه راته وویل: «ای
فاني انسانه، پوه شه چې دا رویا د
اخرې زمانې په هکله ده.»

١٨ په داسې حال کې چې هغه
خبرې کولې، زه په ځمکه باندې
بې‌هوشه پړمخې پروت وم. خو هغه
زه ونیولم او په خپلو پښو یې
ودرولم ١٩ او ویې ویل: «غوږ
ونیسه، زه به تا ته ووایم چې کله
خدای په قهر شي، نو څه به پېښ
شي. دا رویا د اخرې زمانې په هکله

ده.

٢٠ د پسه هغه دوه ښکرونه چې تا ولیدل هغه د ماد او فارس پاچاهان دي. ٢١ هغه سېرلی د یونان پاچاهي ده او هغه قوي ښکر چې د هغه د سترګو په منځ کې دی، هغه لومړنی پاچا دی. ٢٢ هغه څلور ښکرونه چې د لومړني ښکر د ماتېدو څخه وروسته راووتل، هغه څلور پاچاهۍ دي چې په هغو کې به هغه قوم ووېشل شي، خو دا پاچاهۍ به د لومړنی پاچاهۍ په

شان قوي نه وي.

۲۳ کله چې د دغو پاچاهیو د
پای ته رسېدلو وخت راورسیږي او
هغوی دومره بدکاره شي چې سزا
باید ورته ورکړل شي، نو هلته به یو
مغرور، ظالم او مکار پاچا راپیدا
شي. ۲۴ هغه به ډېر قوي شي، خو
په خپل قوت سره نه. هغه به
وېرونکې تباهي راولي او په هر کار
کې به بریالی وي. هغه به ډېر قوي
خلک او د خدای سپېڅلي خلک له
منځه یوسي. ۲۵ په دې خاطر چې

هغه مکار دی، هغه به په خپلو
غولوونکو لارو کې بریالی وي. هغه
به په خپل ځان باندې ویاړ کوي او
ناڅاپه به ډېر خلک له منځه یوسي.
هغه به حتی د ټولو پاچاهانو د پاچا
په وړاندې راپورته شي. هغه به له
منځه لاړ شي، خو د انساني قوت په
وسیله نه. ۲۶ دا رویا چې د
ماښامنۍ او سهارنۍ قربانیو په هکله
وه او تا ته وویل شوه، هغه ربښتیا
ده. خو اوس هغه د ځان سره پټه
وساته، ځکه چې هغه به ډېره موده
وروسته پېښه شي.»

٢٧ زه دانیال څو ورځې ستړی
او ناروغ شوم. بیا پاڅېدم او بېرته د
هغه کار پسې روان شوم چې پاچا
راته سپارلی ؤ، خو د هغې رویا له
امله چې ما لیدلې وه، زه حیران وم
او په هغې باندې نه پوهېدم.

## دانیال د خپل قوم دپاره دعا کوي

١ داریوش چې د مادیانو څخه
ؤ او د خشایار پاچا زوی ؤ، د بابل
پاچا وټاکل شو. ٢ د هغه د
پاچاهۍ په اول کال ما سپېڅلي
کتابونه لوستل او د هغې خبرې په

هکله مې فکر کاوه چې څښتن ارمیا
نبي ته ویلي وو چې اورشلیم به د
اویا کالو دپاره وران پاتې وي. ۳
څښتن خدای ته مې د زړه له کومې
دعا وکړه، زاری مې ورته وکړې،
روژه مې ونیوله، د ویر کالي مې
واغوستل او ایرې مې په سر باندې
وشیندلې. ۴ خپل څښتن خدای ته
مې دعا وکړه، د خپل قوم د ګناهونو
اقرار مې وکړ او ومې ویل: «ای
څښتن خدایه، ته ډېر لوی او
وېروونکی یې. په خپل لوظ باندې
وفا کوې او همېشه د هغو کسانو

سره مینه کوي چې تا سره مینه کوي
او ستا په حکم باندې عمل کوي.
٥ مونږ ګناه کړې ده، مونږ بدکاران
یو او مونږ غلطي کړې ده. مونږ ستا
د حکمونو څخه سرغړونه کړې ده
او د هغې سمې لارې څخه
ګرځېدلي یو چې تا مونږ ته
رانبودلې وه. ٦ مونږ ستا د
خدمتګارانو نبیانو خبرو ته چې ستا
په نامه یې زمونږ پاچاهانو، زمونږ
حاکمانو، زمونږ نیکونو او زمونږ ټول
قوم ته کولې، غوږ ونه نیوه. ٧ ای
زمونږ څښتنه، ستا ټول کارونه

عادلانه دي. خو موږ تر اوسه په
رسوايۍ کې کړېږو، ځکه چې موږ
ستا په وړاندې بې‌وفايي کړې ده. په
هغې کې موږ ټول، که لېرې یو یا
نژدې یعني د یهودا، اورشلیم،
اسراییلو او همدارنګه هغه خلک په
کې شامل دي چې پردیو وطنونو ته
دې شړلي دي. ⑧ ای څښتنه، موږ
او زموږ پاچاهان، حاکمان او نیکونه
شرمېدلي یو، ځکه چې ستا په
وړاندې مو ګناه کړې ده. ⑨ که څه
هم موږ ستا په مقابل کې سرکښي
کړې ده، خو ته رحیم او بخښونکی

يې. ۱۰ اې زمونږ ښښتن خدايه، کله
چې تا مونږ ته ووېل چې د هغو
قوانينو له مخې ژوند وکړئ چې د
خپلو خدمتګارانو نبيانو په وسيله
دې مونږ ته راکړي وو، مونږ هغې ته
غوږ ونه نيوه. ۱۱ ټولو اسراييلو ستا
قوانين مات کړل او ستا خبره يې ونه
منله. مونږ ستا په وړاندې ګناه کړې
ده، نو له همدې امله دې په مونږ
باندې هغه لعنتونه نازل کړل چې ستا
د خدمتګار موسی په شريعت کې
ليکل شوي دي. ۱۲ څه چې تا مونږ
او زمونږ حاکمانو ته ويلي وو

هماغسې دې وکړل. تا اورشليم ته د
نړۍ د نورو ښارونو په پرتله زياته
سزا ورکړه. ۱۳ لکه څنګه چې د
موسی په شريعت کې ليکل شوي
دي هغه افت په مونږ باندې نازل
شوی دی، خو بياهم مونږ ونه
غوښتل چې د خپلو ګناهونو څخه
لاس واخلو او هغه کارونه وکړو چې
ستا په نظر کې سم دي، ترڅو ته په
مونږ باندې رحم وکړې. ۱۴ نو له
دې امله ای زمونږ ښښتن خدايه، ته
تيار وې چې مونږ ته سزا راکړې،
ځکه ته همېشه عادلانه عمل کوې،

خو بیاهم مونږ ستا خبرو ته غوږ
ونه نیوه.

۱۵ ای زمونږ څښتن خدایه، تا
په خپل قوي مټ خپل قوم د مصر
څخه راوویست او داسې نوم دې
وګاټه چې تر نن ورځې پورې پاتې
دی. خو مونږ ګناه کړې ده او مونږ
بد کارونه کړي دي. ۱۶ ای څښتنه،
تا په تېرو وختونو کې د خپل رحم
له مخې زمونږ څخه دفاع کړې ده،
نو په اورشلیم باندې نور مه په
قهر یږه. دا ستا ښار دی، یعنې ستا

سپېڅلي غونډۍ ده. د ګاونډیو
هېوادونو ټول خلک اورشلیم او ستا
خلکو ته زمونږ د ګناهونو او زمونږ
د نیکونو د بدو کارونو له امله سپک
ګوري. ۱۷ ای زمونږ خدایه، زما
دانیال یعنې د خپل خدمتګار دعا او
زارۍ قبوله کړه. ای څښتنه، خپل
کور دې چې وران شوی دی بیرته
جوړ کړه، ترڅو هرڅوک په دې پوه
شي چې ته خدای یې. ۱۸ ای
خدایه، غوږ ونیسه او زمونږ خبرې
واوره. خپلې سترګې خلاصې کړه او
د هغه ښار بربادي وګوره چې ستا

په نوم یادیږي. مونږ ستا ثخه دا غوښتنه په دې خاطر نه کوو چې ګوندې مونږ نېک خلک یو، بلکې ستا د لوی رحم په خاطر. ۱۹ ای څښتنه، زمونږ خبرې واوره. ای څښتنه، مونږ وبخښه. ای څښتنه، مونږ ته غوږ ونیسه او عمل وکړه! په دې خاطر چې هرڅوک پوه شي چې ته خدای یې، نو ځنډ مه کوه، ځکه چې دا ښار او دا خلک ستا په نوم یادیږي.»

## جبراییل د راتلونکي په هکله پېشګویي کوي

٢٠ ما دعا کوله او د خپلو
ګناهونو او د اسراییلو د قوم د
ګناهونو اقرار مې کاوه او خپل
څښتن خدای ته مې زاري کوله چې
خپل عبادتځای د اورشلیم په
سپېڅلي غره باندې بېرته جوړ کړي.
٢١ په داسې حال کې چې ما دعا
کوله، جبراییل چې په مخکینۍ رویا
کې مې لیدلی ؤ، په هغه ځای کې
چې زه وم هلته زر رانښکته شو. دا د

ماښامنۍ قربانۍ د وړاندې کولو وخت ؤ. ۲۲ هغه وویل: «ای دانیاله، زه د دې دپاره دلته راغلې یم چې ستا سره مرسته وکړم چې په دې پېشګویۍ باندې پوه شې. ۲۳ هماغه وخت چې تا خدای ته په دعا کولو باندې شروع وکړه، هغه ستا دعا قبوله کړه. په هغه باندې ډېر ګران یې، نو زه راغلم چې د هغې ځواب درته ووایم. اوس هغې رویا ته پام وکړه چې زه یې درته بیانوم.

۲۴ اویا ځلې اووه کاله هغه موده

ده چې خدای ستاسو د قوم او ستاسو د سپېڅلي ښار څخه د ګناهونو او بدو کارونو څخه د خلاصون دپاره ټاکلې ده. هغه وخت به ګناه وبخښل شي او ابدي عدالت به برقرار شي، ترڅو چې هغه رویا او پېشګویي ربنتیا شي او د خدای سپېڅلی کور به بیا وقف شي. ۲۵ له دې څخه خبر شه او وربانديږ پوه شه. د هغه وخت څخه چې د اورشلیم د بیا جوړولو فرمان جاري کړای شوی دی، د خدای د ټاکل شوي مشر تر راتللو پورې به نهه

څلوېښت کاله يعنې اووه ځلې اووه
کاله تېر شي. اورشليم به د هغه د
کوڅو او خندقونو سره بېرته جوړ
شي او دوه شپېته ځلې اووه کالو
يعنې د څلور سوه او څلور دېرشو
کالو پورې به جوړ پاتې شي، خو دا
به د تکليفونو وخت وي. ۲۶ د هغه
وخت له تېرېدو څخه وروسته به د
خدای هغه غوره کړای شوی مشر
ووژل شي او څه به ورسره نه وي.
ښار او د خدای کور به د يوه پاچا د
لښکر د حملې په وسيله له منځه لاړ
شي. اخره زمانه به د يو سيلاب په

شان راشي او هغه جنګ او تباهي به د ځان سره راوړي چې د خدای له خوا ټاکل شوې ده. (۲۷) هغه مشر به د اووه کالو دپاره د زیاتو خلکو سره یو تړون جوړ کړي او کله چې د دې کلونو نیمایي موده تېره شي، نو هغه به ټولې قربانۍ او نذرانې ختمې کړي. هغه به د عبادتځای په لوړ ځای کې هغه نجس شی چې د بربادۍ سبب ګرځي، کېږدي. دا به تر هغه وخته پورې هلته پاتې شي، ترڅو هغه چا چې هغه یې هلته ځای په ځای کړی دی له منځه

یوسي، لکه څنګه چې د خدای له خوا ورته ټاکل شوی دی.»

## د دجلې د سیند په غاړه د دانیال رویا

١ د فارس د پاچا کوروش د پاچاهۍ په درېم کال دانیال ته چې د بلطشصر په نوم هم یادېده، یو پیغام راغی. دا پیغام د یو وېرووونکي جنګ په هکله ؤ. هغه رښتیا ؤ او دانیال د رویا په وسیله په پیغام پوه شو.

٢ په هغه وخت کې ما دانیال

درېـ هفتې وير كاوه. ۳ تر درې
هفتو پورې ما هېڅ ښه خواړه او
غوښه ونه خوړله، نه مې شراب
وڅښل او نه مې خپل ويښتان په
تېلو باندې غوړول.

۴ د كال د لومړۍ مياشتې په
څلورويشتمه ورځ زه د دجلې د
لوى سيند په غاړه ولاړ وم. ۵ ما
پورته وكتل او يو سړى مې وليده
چې د كتان كالي يې اغوستي وو او
د سوچه سرو زرو يو كمربند يې تر
ملا تړلى ؤ. ۶ د هغه بدن د شين

یاقوت په شان، مخ یې د برېښنا په شان او سترګې یې د اور په شان ځلېدلې. د هغه متې او پښې د ځلېدونکي برنجو په شان وې او اواز یې د یوې لویې ګڼه‌ګوڼې د غرهار په شان ؤ. ۷ دا رویا یوازې ما دانیال ولیدله. هغه خلک چې زما سره وو هغوی دا رویا ونه لیدله، خو هغوی ووېرېدل، وتښتېدل او خپل ځانونه یې پټ کړل. ۸ هلته یوازې زه پاتې وم چې دې حیرانوونکې رویا ته مې کتل. په ما کې هېڅ توان پاتې نه شو. زما د مخ رنګ والوت

او زه کمزورى شوم. ۹ کله چې ما د هغه اواز واورېد، په ځمکه باندې پړمخې راپرېوتم او بې‌هوښه شوم.
۱۰ بيا د يو چا لاس راپيدا شو او زه يې د لاسونو څخه راونيولم، راپورته يې کړم او په خپلو پښو باندې يې ودرولم او زه رپېدلم.

۱۱ فرښتې راته وويل: «اى دانياله، ته په خداى باندې ډېر ګران يې. پاخېږه او څه چې درته وايم په غور سره ورته غوږ ونيسه، ځکه چې زه تا ته رالېږل شوى يم.» کله

چې هغې دا خبره وکړه، زه ودرېدم او رپېدلم. ۱۲ بیا هغې وویل: «ای دانیاله، مه وېرېږه! د هماغې اولې ورځې څخه چې تا په خاکساری سره د پوهې غوښتنه وکړه، خدای ستا دعاګانې قبولې کړې او زه یې دلته راولېږلم. ۱۳ هغه شیطاني قوت چې د فارس په پاچاهۍ باندې یې حکمراني کوله، یوویشت ورځې زما لاره بنده کړه. بیا میکاییل چې د ډېرو مهمو فرښتو څخه یوه فرښته وه راغله چې زما سره مرسته وکړي، ځکه چې زه په فارس کې پاتې

شوی وم. ۱۴ زه اوس راغلم چې تا
په دې باندې پوه کړم چې په
راتلونکې کې به ستا په قوم باندې
څه پېښ شي. دا رویا د راتلونکې په
هکله ده.»

۱۵ په داسې حال کې چې
فرښتې زما سره خبرې کولې، ما
ښکته ځمکې ته کتل او ګونګ شوم.
۱۶ بیا بلې فرښتې چې د انسان په
شان ښکارېدله، زما شونډې لمس
کړې او ما خبرې شروع کړې. ما
هغې ته وویل: «ای بادارې، دې

رويا زه اندېښمن کړی یم او په ما کې قوت او توان پاتې نه دی. ۱۷ زه د هغه غلام په شان یم چې د خپل بادار په مخکې ولاړ وي. څنګه کولای شم ستا سره خبرې وکړم؟ په ما کې قوت نشته او ساه نه شم اخیستلی.»

۱۸ هغې فرښتې چې د انسان په شان ښکارېدله، یوځل بیا ونیولم او ما ته یې قوت راکړ. ۱۹ هغې وویل: «ته په خدای باندې ډېر ګران یې، نو د هیڅ شي څخه مه وېرېږه. سلامت

اوسه، قوي او زړور اوسه.» کله چې
هغې دا خبره وکړه، زه نور هم قوي
شوم او ومې ویل: «ای باداري،
ووایه څه وایې. تا ما ته قوت راکړ.»
۲۰-۲۱ بیا هغې فرښتې وویل: «ایا ته
پوهېږې چې زه ولې تا ته راغلې
یم؟ د دې دپاره چې هغه څه چې د
حقیقت په کتاب کې لیکل شوي دي
هغه تا ته ښکاره کړم. اوس باید
لاړه شم او د هغه شیطاني قوت سره
وجنګېږم چې په فارس باندې
حکمراني کوي. له هغې وروسته به
هغه شیطاني قوت راشي چې په

یونان باندې حکمراني کوي. د اسراییلو د ډېرې مهمې فرښتې میکاییل څخه پرته به بل څوک نه وي چې زما سره مرسته وکړي.

(۱) د ماد د پاچا داریوش د پاچاهۍ په لومړي کال ما د میکاییل ملاتړ وکړ او هغه مې قوي کړ. (۲) نو اوس چې زه درته څه وایم هغه رښتیا دي.»

## د مصر او سوریې پاچاهۍ

فرښتې خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

«درې نور پاچاهان به په فارس باندې حکومت وکړي او څلورم پاچا به د نورو درې واړو په پرتله ډېر شتمن وي. هغه به د خپلې شتمنۍ په وسیله ډېر قدرتمند شي او ټول به د یونان د پاچاهۍ په ضد راوپاروي.

۳ بیا به یو قوي پاچا قدرت ترلاسه کړي او هر څه چې وغواړي هغه به یې وکړي. ۴ خو د هغه د قدرت په زیاتېدو سره به د هغه پاچاهي ټوټې ټوټې شي او په

ځلورو برخو به وویشل شي. د هغه
اولاده به پاچاهی ته ونه رسیږي او
نه به د هغه په شان قدرت ولري،
ځکه چې د هغه پاچاهي به له منځه
لاړه شي او نورو ته به ورکړای شي.

۵ د مصر پاچا به قوي شي، خو
د هغه د قوماندانانو څخه به یو کس
په هغه باندې ډېر قوي شي او واک
به ترلاسه کړي او هغه به په ډېر
قدرت سره پاچاهي وکړي. ۶
وروسته له څو کالو به د مصر پاچا
د سوریې د پاچا سره یووالی اعلان

کړي او خپله لور به هغه ته په نکاح کړي. خو دا یووالی به دوام پیدا نه کړي او هغه، د هغې پلار او هغه خدمتګاران چې د هغې سره تللي وو، هغوی ټول به ووژل شي. ۷ له هغې وروسته به د هغې د خپلوانو څخه یو کس پاچا شي. هغه به د سوریې د پاچا په لښکر باندې حمله وکړي، د هغوی جنګي کلا ته به ننوځي او هغوی ته به ماتې ورکړي. ۸ هغه به د هغوی فلزي بتان او د سرو زرو او سپینو زرو هغه سامان چې دغو بتانو ته وقف کړای شوي

وو، بېرته مصر ته راوړي. د څو کالو ارامۍ څخه وروسته به ⑨ د سوریې پاچا په مصر باندې حمله وکړي، خو هغه به بېرته په شا تګ ته مجبور شي.

⑩ د سوریې د پاچا زامن به د جنګ دپاره تیارۍ ونیسي او یو لوی لښکر به سره راټول کړي. د هغوی څخه به یو کس د سیلاب په شان ورشي او د دښمن په جنګي کلا باندې به حمله وکړي. ⑪ په دې کار باندې به د مصر پاچا په قهر

شي، د سوريې د پاچا سره به جنګ وکړي او د هغه لوی لښکر ته به ماتې ورکړي. ⑫ هغه به په خپل بري باندې مغرور شي او ډېر عسکر به ووژني، خو د هغه بریالیتوب به دوام ونه کړي.

⑬ د سوريې پاچا به بېرته لاړ شي او يو بل لښکر به راټول کړي چې د مخکيني لښکر څخه به لوی وي او څو کاله وروسته به هغه د يو لوی لښکر او سامان سره بېرته راشي. ⑭ په دې وخت کې به ډېر

خلک د مصر د پاچا په وړاندې راپورته شي. ای دانیاله، ستا د قوم شخه به ځینې داړه ماران د یوې رویا له امله چې هغوی لیدلې ده سرکښي وکړي، خو هغوی به د ماتې سره مخامخ شي. ۱۵ بیا به د سوریې پاچا یو قوي دېوال لرونکی ښار کلابند کړي او هغه به ونیسي. د مصر عسکر به جنګ ته دوام ورنه کړای شي، حتی د هغوی ډېر ښه عسکر به هم دا توان ونه لري چې د هغه په وړاندې ودرېږي. ۱۶ څنګه چې د سوریې د پاچا خوښه وي د

هغوی سره به هماغسې کار وکړي
او هېڅوک به دا توان ونه لري چې
د هغه په وړاندې ودرېږي. هغه به د
اسراییلو د ښکلي هېواد واک ترلاسه
کړي او د دې قدرت به ولري چې
هغه له منځه یوسي.

١٧ د سوریې پاچا به یو پلان
جوړ کړي چې د خپلې پاچاهۍ د
ټول قوت سره راشي او د مصر د
پاچا سره یو تړون وکړي. هغه به
خپله لور د مصر پاچا ته په نکاح
کړي د دې دپاره چې د هغه پاچاهي

له منځه یوسي، خو د هغه پلان به بریالی نه شي او د هغه سره به مرسته ونه کړي.

۱۸ وروسته به بیا د سوریې پاچا په هغو قومونو باندې حمله وکړي چې د بحیرې په غاړه پراته دي او له هغو څخه به ډېر یې ونیسي. خو یو قوماندان به هغه ته ماتې ورکړي او د هغه غرور به مات کړي. ۱۹ پاچا به بېرته د خپل هېواد جنګي کلاګانو ته راستون شي، خو په لاره کې به هغه د ماتې سره مخامخ شي

او بیا به هېڅکله ونه لیدل شي.

٢٠ له هغه وروسته به بل پاچا راشي. هغه به یو مامور ولېږي چې د مالیو د اخیستلو په وسیله د خپلې پاچاهۍ د شتمنۍ د زیاتولو په خاطر په خلکو باندې فشار راوړي. په ډېر کم وخت کې به پاچا ووژل شي، خو په څرګند ډول نه او نه په جګړه کې.»

## د سوریې بدکاره پاچا

٢١ فرښتې خپلو خبرو ته دوام

ورکړ: «د سوریې راتلونکی پاچا به
یو بدکاره سړی وي چې د پاچاهۍ
کولو حق به نه لري، خو هغه به
یوناڅاپه راشي او په چل باندې به
قدرت ونیسي. ۲۲ هرڅوک چې د
هغه سره مخالفت وکړي، حتی که
هغه د خدای لوی کاهن هم وي،
هغه به له منځه لاړ شي. ۲۳ هغه به
د تړونونو د جوړولو په وسیله نور
قومونه وغولوي او که څه هم د هغه
سره ډېر لږ خلک دي، خو هغه به
ډېر قوي شي. ۲۴ هغه به ناڅاپه په
شتمنو ولایتونو باندې حمله وکړي

او داسې کارونه به وکړي چې د هغه
د نیکونو څخه هیچا هم داسې
کارونه نه دي کړي. بیا به هغه مالونه
او شتمني چې په جنګ کې یې
نیولي دي، د خپلو خلکو تر منځ
وویشي. هغه به په جنګي کلاګانو
باندې د حملې پلانونه جوړ کړي،
خو هغه به د زیات وخت دپاره دوام
ونه کړي.

٢٥ هغه به یو لوی لښکر سره
راټول کړي او په ډېر جرات سره به
د مصر په پاچا باندې حمله وکړي.

د مصر پاچا به هم د یو ډېر لوی او
قوي لښکر سره جنګ ته تیاری
ونیسي. خو د مصر پاچا به د هغو
دسیسو له امله چې د هغه په ضد
جوړې شوې وې، د دې توان ونه
لري چې د سوریې د پاچا په
وړاندې ودرېږي. (۲۶) د هغه ډېر
نژدې درباریان به د دې سبب
وګرځي چې هغه له واکه
وغورځوي. د هغه زیات عسکر به
ووژل شي او لښکر به یې له منځه
لاړ شي. (۲۷) دواړه پاچاهان به په یو
دسترخوان باندې ډوډی خوري، خو

د هغوی ارادې به بدې وي او هغوی به یو بل ته دروغ وايي. هغه څه چې هغوی يې غواړي هغه به ترلاسه نه کړي، ځکه چې هغه ټاکل شوی وخت لا تراوسه نه دی رارسېدلی. ۲۸ د سوريې پاچا به د هغه ټول غنيمت سره چې هغه نيولی دی، خپل کور ته راستون شي او دا اراده به وکړي چې د خدای قوم له منځه یوسي. څه چې د هغه خوښه وي هماغسې به وکړي او بيا به خپل سفر ته دوام ورکړي.

٢٩ وروسته به د سوريې پاچا
يوځل بيا په ټاکلي وخت په مصر
باندې حمله وکړي، خو دا ځل به د
هغې نتيجه بدله وي او د مخکې په
شان به نه وي. ٣٠ روميان به په
کشتۍګانو کې راشي او د هغه په
وړاندې به ودرېږي او هغه به
وويرېږي. هغه به ډېر په غضب سره
بېرته راستون شي او هغه به وکړي
چې د خدای د قوم دين له منځه
يوسي. هغه به د هغو يهوديانو په
مشوره باندې عمل وکړي چې
سپېڅلی لوظ يې مات کړی دی. ٣١

د هغه ځينې عسکر به د خدای د
کور سپکاوی وکړي او ورځنی
قربانی به بندې کړي. بيا به هغه يو
نجس شی جوړ کړي چې د بربادۍ
سبب به شي. ۳۲ پاچا به په مکر
سره د هغو خلکو ملاتړ ترلاسه کړي
چې پخوا يې لا خپل سپېڅلی لوظ
مات کړی دی، خو هغه خلک چې
خدای پېژني، هغوی به قوي وي او
د پاچا سره به مقابله وکړي.

۳۳ د قوم هوښيار مشران به ډېرو
خلکو ته لارښوونه وکړي. خو د

هغوی شخه به ځینې په جګړه کې ووژل شي یا به په اور باندې وسوځول شي او ځینې به لوټ کړای شي او بندیان به شي. (۳۴) د وژنې په وخت کې به د خدای قوم لږه مرسته ترلاسه کړي او ډېر به په ریاکارۍ سره د هغوی سره یوځای شي. (۳۵) د دې هوښیارو مشرانو شخه به ځینې ووژل شي، خو په نتیجه کې به قوم پاک شي. دا کار به تر هغه وخته پورې دوام ومومي، ترڅو هغه وخت راورسیږي چې خدای ټاکلی دی.

۳۶ هر څه چې د سورېي د پاچا
خوښه وي، هغه به وکړي. هغه به
لافې وهي چې هغه د هر خدای
څخه ډېر لوی دی او حتی د خدای
تعالی په خلاف به کفر وايي. دا کار
به تر هغه وخته پورې کوي، ترڅو
خدای ورته سزا ورکړي. خدای به
کټ مټ هماغسې وکړي چې پلان
کړی يې دی. ۳۷ پاچا به نه د هغو
خدايانو پروا وکړي چې د هغه
نيکونو ورته عبادت کاوه او نه د هغه
خدای چې ښځې يې خوښوي. هغه
به په حقيقت کې د هېڅ خدای پروا

ونه ساتي، ځکه چې هغه به فکر
کوي چې د هغو ټولو څخه ډېر لوی
دی. ۳۸ د دې ټولو خدايانو په ځای
به هغه د هغه خدای عزت کوي چې
د جنګي کلاګانو ساتنه کوي. پاچا به
هغه خدای ته سره زر او سپين زر،
قيمتي تيږې او نور ښه سوغاتونه
وړاندې کړي چې د هغه نيکونو
ورته هېڅکله عبادت نه دی کړی.
۳۹ هغه به د پردي خدای په مرسته
په قوي کلاګانو باندې حمله وکړي.
هغه چا ته به زيات عزت ورکړي
چې هغه د پاچا په توګه قبلوي.

هغوی ته به لوړ مقامونه ورکړي او د انعام په توګه به ځمکه د هغوی ترمنځ وویشي.

۴۰ د سوریې د پاچا د پاچاهۍ په اخر وخت کې به د مصر پاچا په هغه باندې د توفان په شان حمله وکړي او د سوریې پاچا به هم په خپل ټول قدرت سره د هغه په وړاندې د جنګي ګاډیو، اسونو او ډېرو کشتیګانو څخه کار واخلي. هغه به د سیلاب په شان په ډېرو هېوادونو باندې حمله وکړي او

وربانديې به تېر شي. ۴۱ هغه به حتی
د اسراييلو په ښکلي وطن بانديې هم
حمله وکړي او په لس ګونو زره
خلک به ووژني، خو د ادوم او د
موآب هېوادونه او پاتې عمونيان به
له هغه څخه خلاصون ومومي. ۴۲
کله چې هغه په دې ټولو هېوادونو
بانديې حمله وکړي، نو مصر به هم
ورڅخه خلاص نه شي. ۴۳ هغه به د
مصر د سرو زرو او سپينو زرو
خزانې او د هغه نوره شتمني لوټ
کړي او ليبيايان او ايتوپيان به ورته
تسليم شي. ۴۴ خو د ختيځ او شمال

ثخه به د هغه غوږ ته خبرونه راورسيږي او هغه به وويريږي. هغه به ډېر زيات په قهر شي، جګړه به وکړي او زيات خلک به تباه کړي.
۴۵ هغه به خپلې شاهانه خېمې د بحيرې او هغه ښکلي او سپېڅلي غره ترمنځ چې د خدای کور ورباندې دی، ودروي. خو هغه به مړ شي او هېڅوک به هلته نه وي چې مرسته ورسره وکړي.»

## اخره زمانه

۱ هغې فرښتې چې د کتان کالي

يې اغوستي وو، وويل: «هغه وخت به میکاییل چې مشره فرښته ده او ستا د قوم ساتنه کوي، راښکاره شي. بیا به د داسې تکلیفونو وخت راشي چې د قومونو د راپیدا کېدلو د وخت څخه تراوسه پورې نه وو راغلي. خو چې هغه وخت راورسیږي، نو ستا د قوم هغه ټول خلک به چې نومونه یې د خدای په کتاب کې لیکل شوي دي، وژغورل شي. ۲ ډېر خلک چې پخوا مړه شوي او ښخ شوي دي، هغوی به بیا راژوندي شي. د هغو څخه به ځینو

ته تلپاتې ژوند ورکړل شي او نور به وشرمیږي او د تلپاتې رسوايۍ سره به مخامخ شي. ۳ هوښیار مشران به لکه د اسمان د رڼا په شان ځلیږي او هغوی به چې ډېرو خلکو ته يې د ښو کارونو لارښوونه کړې ده، تل ترتله د ستورو په شان ځلیږي.» ۴

هغه ما ته وویل: «نو اوس ای دانیاله، کتاب بند کړه او ترڅو چې اخره زمانه رارسیږي هغه مهر کړه. ډېر خلک به ېېڅایه هڅه وکړي چې په دې باندې پوه شي چې څه به پېښیږي.»

۵ بیا ما دانیال دوه کسان ولیدل
چې یو د سیند په یوې غاړې باندې
ولاړ ؤ او بل یې د سیند په بله غاړه
باندې. ۶ د هغوی څخه یو یې د
هغې فرښتې څخه پوښتنه وکړه چې
د کتان کالي یې اغوستي وو او د
سیند په غاړه ولاړه وه: «په څومره
وخت کې به دا عجیبه پېښې سر ته
ورسیږي؟» ۷ فرښتې خپل دواړه
لاسونه اسمان ته پورته کړل او د
ابدي خدای په نوم یې سخت قسم
وخوړ. ما واورېدل چې هغې وویل:
«دا به درې نیم کاله وخت ونیسي.

کله چې د خدای د قوم ځورېدنه پای ته ورسېږي، دا ټول شيان به ختم شي.» ٨ څه چې هغې وويل ما واورېدل، خو زه ورباندې پوه نه شوم. نو پوښتنه مې وکړه: «ای باداري، دا ټول به څنګه پای ته ورسېږي؟» ٩ هغې ځواب راکړ: «ای دانياله، په خير لاړ شه، ځکه چې دا خبرې به تر هغه وخته پورې پټې پاتې وي، ترڅو اخره زمانه راورسېږي. ١٠ ډېر خلک به پاک، بې‌داغه او صفا کړای شي. بدکاره خلک به ورباندې پوه نه شي، بلکې

خپلو بدو کارونو ته به دوام ورکړي.
خو یوازې هوښیار خلک به
ورباندې پوه شي.

(۱۱) له هغه وخت څخه چې
ورځنی قربانۍ بندې شوې دي،
یعنې د هغه نجس شي د جوړېدو له
وخت څخه چې د بربادۍ سبب به
شي، یو زر او دوه سوه نوي ورځې
به تېرې شي. (۱۲) بختور دي هغه
خلک چې د یو زر او درې سوه
پنځه دېرشو ورځو تر پای ته
رسېدلو پورې وفادار پاتې شي! (۱۳)

نو ای دانیاله، تر اخره پورې وفادار اوسه. بیا به مړ شې، خو په اخره زمانه کې به بېرته راژوندی شې او خپل انعام به ترلاسه کړې.»

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳